# د حل لار کومه ده

# جرګه

# او که

# جګړه؟

لیکوال: قاري مقبول افریدی

العزائم
مؤسسة العزائم الإعلامية

بسم الله الرحمن الرحيم

# د حل لار کومه ده
# جرګه او که جګړه؟

مؤسسة العزائم
الإعلامية

**لیکوال:** قاري مقبول افریدي

الحمدلله القوي المتين والصلوة والسلام على من بعث بالسيف رحمة للعالمين أما بعد: قال تعالى: قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِىَ إِبْرٰهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُا مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدٰوَةُ وَالْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتّٰى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُۥٓ [سُورَةُ الْمُمتَحنَة : 4]

ژباړه: ستاسي لپاره د ابراهيم (عليه السلام ) او د هغه د ملګرو (په کېسه) کښي يوه غوره نمونه ده، چې هغوی خپل قوم ته په ډاګه وويل: "موږ له تاسي او ستاسې له دغو معبودانو څخه چې د الله پر ځای يې بندګي کوئ، په ټينګه بېزاره يوو. موږ ستاسې څخه منکر شوي يو او زموږ او ستاسې تر منځ د تل لپاره دښمني او کينه ولويدله، تر څو پورې چي پر يوه الله ايمان رانه وړئ."

و عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ الصَّابِرُ فِيهِمْ عَلَى دِينِهِ كَالْقَابِضِ عَلَى الْجَمْرِ ". [سنن الترمذي ومسند أحمد (حسن)]

ژباړه: انس بن مالک د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې فرمايي: خلکو باندې به داسې حال راشي چې صبرکونکی په دين باندې دا به لکه د هغه کس په څېر وي چې سکروټه يې لاس کې نيولې وي.

اسلامي نړۍ نن د وطنيت او لادينيت په سيلاب کې غرقه ده، دا ممکنه نده چې دښمنان دې سربيره په دې چې د اسلام په ضد يې نه ستړي کېدونکې هلې ځلې کړي دي، اجازه ورکړي چې د اسلام حقيقي نظام دې په يو ټوټه ځمکه باندې واکمن شي او که چېرې يې وکړي نو مثال يې داسې دی لکه څوک چې ځانته کور جوړ او بيا يې بې ښځ او بې بده او بې لدې چې ځانته بل کور پيدا کړي وران يې کړي، هوښيار سړی خو داسې کار نه کوي، نو

موږ ته هم شریعت تقریباً 1400 کاله مخکې یادونه کړې، چې تاسې خپل دښمن باندې ښه ګمان مکوئ، دوی ستاسې د نابودۍ لپاره په خپلو زړونو کې نه ختمېدونکې کینه او بغض لري.

قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاء مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الآيَاتِ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴿118﴾

لکه څنګه چې امام قرطبي رحمه الله د دې آیت په تفسیر کې فرمايي: چې الله رب العالمین خپلو بنده ګانو ته اعلان او خبر ورکړی دی، چې ستاسې دښمنان په خپلو زړونو کې د هغې په نسبت زیاته دښمني لري د کومې دښمنۍ ذکر او یادونه چې په خوله کوي.

عجیبه نده؟ نن سبا د محکومیت او د کفارو د اشغال او وحشت څخه د خلاصون لپاره صرف د څو کسانو د اوښکو له تویولو او د غم او درد د اشعارو او شعارونو له ویلو او ورکولو پرته بل کوم دروند عکس العمل نه لیدل کېږي ولې؟

دا چې اسلامي نړۍ اسیره ده، اسلامي امت په بد حال او پایمال دی، ټول په مصائبو او وحشتونو کې راګیر دي ولې نن همدا لوی مصیبتونه او دردونه مسلمانان خپل نه ګڼي، دا درد او مصیبت ورته پردی ښکاري او دې ټولو مسایلو اساسي حل نه غواړي، بلکې دا علیا مسایل قوم او ژبې پورې تړي؟

ولې مسلمانان نن له اسلامي اخوت څخه بې برخې دي، اسلامي خاوره خپله خاوره نه ګڼي، د فرضي کرښو په طلسم کې راګیر دي، د اسلامي نړۍ او اسلامي امت له دردہ بې حسه او بې احساسه دي او د یو سمت او هېواد مسلمانان د بل ملک او وطن د مسلمانانو سره د تربورولۍ او دښمنۍ چلند کوي؟

آیا دا همدومره وړوکی غم دی؟
آیا همداسې مناسب ده، چې موږ هم د نورو خلکو په څېر دا غم هېر کړو؟ آیا اسلامي نړۍ همداسې بې ارزښته، بې وقاره او بې تاریخه خاوره او جغرافیه ده؟ چې اوس زموږ نسلونو ته د اسلامي خاورې قلمرو هغه ښکاري کوم چې انګریزانو ورته ټاکلي او بین الملل پرې منلي او د همدغه بین المللي اصولو پر بنسټ یې د دوستۍ او دښمنۍ معیارونه ټاکل شوي، اوس زموږ نسلونه د اسلامي خاورې قلمرو نه پېژني.
نه داسې باید نه وي!
د اسلامي نړۍ حدود باید د هر مسلمان په زړه او دماغو کې نقش وي، ددغه حدودو آزادي او دلته د خپلو اسلامي ارزښتونو پالنه او ساتنه باید د ټولو ستر ارمان او تمنا وي.
هغه اسلامي نړۍ چې د مسلمانانو د مټو په زور، د وینو په قیمت او د جهاد په برکت آزاده شوې وه، نن پکې د سور او تور صلیبي ځواک واکمني او مستي ده.
باید هر مسلمان اسلامي نړۍ وپېژني او دا هم درک کړي چې زما مسؤلیت تر کوم حده پورې دی زه باید څه وکړم او زه څوک یم؟ زما تاریخ پورې څه نښتي دي؟ د اسلامي خاورې تاریخ څه دی، نور کوم مسائل د دې اړوند دي؟ نو په دغه مسائلو باید د مسلمانانو فرد فرد پوهه شي.
خو برعکس مونږ دا هر څه هیر کړي دي او خپلې ټولې هڅې ، مبارزه د قومیت په شعار کې رامنحصر کوو. سیکولر فکر په اسلامي نړۍ کې د خپل پرمختګ لپاره همدغه د وطنیت او قومیت ځانګړي اصطلاحات استعمالوي چې د وطن او قام اصطلاح اوس یوه عامه بلا ګرځېدلې ده.

سیکولریزم تل همداسې غولوونکي اصطلاحات په ښکلو قالبونو کې خلکو ته د دوکې لپاره وړاندې کړي دي، چې هله وطن د مور حیثیت لري، وطن حق لري، وطن آزادي غواړي او غولېدونکی ولس تل په همدې اصطلاحاتو بار، بار غولوي.

غولېدلي ملت بیا همېش همدې نارو ته لبیک ویلی، جعلي او ماشیني کسانو ته یې د اتل او  قهرمان لقبونه ورکړي دي.

مصطفی کمال اتاترک ته د غازي لقب چا ورکړ؟

د ترکیې ملت همدا نارې اوچتې کړې چې د ترکیې خالد د عربي خالد تاریخ راژوندی کړ.

همدې د ترکیې خالد(!) بیا عثماني دولت یې ړنګ کړ.

قوم پرستو د یهودیانو او صلیبیانو هغو پټو پروګرامونو ته پوره غاړه ایښې ده چې په اسلامي نړۍ کې یې د الحاد خپرولو لپاره په کار اچولي دي.

که تاسې د خراسان تاریخ ته تم شئ نو په کراتو داسې انقلابونه او پیښې منځ ته راغلي چې مسلمانانو هغه وخت اسلحې ته لاس کړی کله چې د شرقي او غربي کفارو د دستوراتو او قوانینو د تطبیق په لاره کې ددوی وحشتونه له برداشته بهر شوي ، نو مومنان مسلح قیام ته تیار شوي.

ځکه مومنان هیڅ وخت د ظلم مقابل کې ندي تسلیم شوي ، نه یې د بشر په لاس په جوړو شویو قوانینو باندې چا سره جوړجاری کړی دی .

رسول الله ﷺ ته ډېر وړاندیزونه وشول چې حد اقل که زمونږ سیاسي نظام نه حاکموې، نو بد رد ورته مه وایه، خو رسول الله ﷺ دا هم ورسره نه مني، بلکه ورته وایي چې ستاسې نظام باطل او زمونږ نظام په حقه دی، ځکه رسول الله ﷺ پوهېږي چې له بعثت څخه همدغه زما هدف دی چې د دوی

طاغوتي نظامونه باید رنګ کړم، دې سره مبارزه وکړم، نو که چیرې زه تنازل او نرمي وکړم، مشرکینو سره راشه، درشه معاملات او خنداګانې شروع کړم، نو زما د رسالت هغه مفهوم له منځه ځي.

د دې بحث څخه زمونږ هدف همدغه دی چې رب العالمین مونږ او تاسې په دې باندې مکلف ګرځولي یو چې د دغسې طاغوتي نظامونو جرړې وباسو، بېخ کندي یې وکړو او داسې طاغوتي نظامونه چې په یوه ټولنه کې د یو سیاسي نظام په حیث حاکم دي او یا یې د حاکمېدو هڅې کیږي، خلکو ته یې تشرېح کړو، په بېلا بېلو برخو یې ورته رڼا واچوو، خلک په دې پوره پوهه کړو چې دا طاغوتي نظامونه دي، د طاغوتي نظامونو دا... او دا... نښې دي، په دې... او دې... دلائلو دا طاغوتي نظامونه دي او د دغه طاغوتي نظام سره مبارزه الله رب العالمین په مونږ باندې فرض کړې ده، بدیل یې هم ورته لرو، داسې نه ده چې یوازې دا طاغوتي نظام د حاکمیت وړ دی، نه بلکې دا طاغوتي نظامونه له پراخه هر اړخیزو مفاسدو او نیمګړتیاوو ډک دي، مونږ د حاکمیت لپاره د اسلام سیاسي نظام لرو چې ټولو برخو ته کامل او شامل نظام دی، نو خلکو ته د اسلام د سیاسي نظام په اړه د هر اړخیزو معلوماتو په ورکولو مونږ مکلف یو، باید په ټولو خواو یې ورته وغږېږو، د تطبیق او عملي کېدلو خبرې هم ورته وکړو، د اسلام په جامه کې دښمنانو چې د اسلام په سپېڅلي سیاسي نظام کومې خاورې او دوړې غورځولې وي هغه باید ورڅخه لرې او د هغې اصلي څهره مسلمانانو ته روښانه کړو او د رسول الله ﷺ په مبارک لاس د جوړ شوي اسلامي نظام اصیل فهم ته په بشپړ اخلاص او صداقت سره دعوت وکړو، ټولو خلکو ته یې ورسوو او په دې ټولو موضوعاتو مسلمانانو ته لله الحمد مجاهدین قناعت هم ورکولای شي.

کله چې مشرکين د رسول الله ﷺ ورځ تربلې زياتېدونکي نفوذ او قوت څخه په ډار او وارخطايۍ کې راغلل ، هره وسه يې تمامه کړه او زور يې ونه رسېده، نو د قريشو يو مشر عتبه بن ربيعه د دوی په استازولۍ رسول الله ﷺ ته راغی، تر څو ورته ځينې وړانديزونه وکړي، رسول الله ﷺ باندې خپل زهر وچلوي د دنيا مال، متاع، واک، زر، ښځو او نورو غولونکو تمو په ګرداب کې يې راګير کړي او له خپل مسؤليت او دعوې څخه يې راوګرځوي، همغه و چې عتبه راغی د رسول الله ﷺ په وړاندې کېناست ورته يې وويل: وراره! ته خو زموږ په منځ کې د اوچتې او قدرمنې کورنۍ د محترم او لوړ نسب خاوند يې، تا خپل قوم ته يوه لويه مسئله راوړې ده او په دې سره دې د ټول قوم په منځ کې جنجال جوړ کړی، بې اتفاقي دې راوړې ده، د دوی دين او معبودان توهينوې، عيب پرې پورې کوې، د خپلو پلرونو دين او عادات دې پرېښي، نو وراره زه درته يو څو وړانديزونه لرم، فکر پرې وکړه کېدای شي کوم يو دې خوښ شي، که يې ومنې او دا شخړه ختمه شي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: (قل يا ابا الوليد اسمع).

ژباړه: وايه ابوالوليده اورم.

عتبه وويل: وراره کوم دعوت چې تا اسلام ته شروع کړی او کومې هلې ځلې چې کوې او زموږ په منځ کې دې ستونزې راولاړې کړي که له دې څخه دې مقصد د مال ترلاسه کول وي، نو موږ به درته دومره مال او دارايي راټوله کړو چې له موږ ټولو به ته زيات مالداره او شتمن شې.

او که له دې لارې غواړې چې مشر شې نو موږ به دې سمدستي خپل مشر وټاکو او هېڅ فيصله به ستا له مشورې پرته نه کوو، ته به د مکې مشر شې، د ټولې مکې واک به تاسره وي، که پاچاهي غواړې نو پاچا به دې کړو، او که

چېرې دا څه چې درته راځي جن یا پېرى وي او ناروغه يې نو علاج به دې وکړو، که غواړې د خپل قوم ښايسته او غوره ښځه به درکړو، خو دا کومه دعوه چې لرې، دا کوم مشن چې دې روان کړى دى له دې تېر شه.

کله چې عتبه خبرې ختمې کړې رسول الله ﷺ ورته وويل: ستا خبرې خلاصې شوې؟

هغه ورته وويل: هو!

نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: (فاسمع مني) اوس ماته غوږ شه.

عتبه وويل غوږ مې دى. رسول الله ﷺ خبرې داسې پيل کړې، بسم الله الرحمن الرحيم ﴿حمٓ (1) تَنزِيلٌ مِّنَ الرَّحۡمَٰنِ الرَّحِيمِ (2) كِتَٰبٌ فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥ قُرۡءَانًا عَرَبِيًّا لِّقَوۡمٍ يَعۡلَمُونَ (3) بَشِيرًا وَنَذِيرًا فَأَعۡرَضَ أَكۡثَرُهُمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ.﴾ [سُورَةُ حٰمٓ السجدة/فُصّلَت: 1- 3]

ژباړه: حا، ميم. (1) دا (قرآن) د خورا مهربان او پوره رحم لرونکي الله له خوا نازل کړى شوى دى؛ (2) يو داسې کتاب چې آياتونه يې په تفصيل سره بيان کړاى شوي دي او د عربي ژبې قُرآن دى د هغو خلکو لپاره چې علم لري؛ (3) زېرى ورکوونکى او وېروونکى دى، خو له دغو خلکو څخه زياترو ترينه مخ واړاوه او غوږ ورته نه ږدي.

رسول الله ﷺ قرآنکريم تلاوت کوي، عتبه لاسونه شاته ايښي تکيه يې کړې غلى ناست دى او غوږ يې ورته نيولى دى، رسول الله ﷺ د سجدې آياتونه تلاوت کړل، سجده يې وکړه او بيا يې وويل: ابوالوليده وادې وريدل؟

اوس خپله فکر وکړه ته پوهه شه او کار دې.

عتبه پاڅېده خپلو ملګرو ته ورغى ملګرو يې وويل عتبه چې له موږ په کوم مخ تللى و په هغې نه دى راغلى، ترې وېې پوښتل څه کيسه ده؟

هغه ورته وویل: قسم په الله ما داسې خبرې واورېدې چې په ټول عمر کې مې نه وې اورېدلې، هغه نه سحر و، نه شعر و، نه جادو او نه مداریتوب. اې قریشو! محمد ﷺ په خپل حال پرېږدئ .

همدا راز د قریشو مشران ابو طالب ته راغلل او هغه یې مجبور کړ چې خپل وراره وپوهوي چې د دوی له دښمنۍ لاس واخلي، تره یې ورته وایي مشران راغلي و او داسې داسې... غوښتنې یې درلودې، دا خبره هم وشوه چې ته زموږ آلهه وو ته بد او رد مه وایه مونږ به ستا رب پسې بد نه وایو، او یا به یو کال ستا د رب عبادت وکړو یو کال ته زمونږ د باطلو آلهه وو عبادت وکړه او یا به عقیدوي آزادي وي، هر څوک چې هر کار کوي نو یو به د بل په کار کې مداخله نه کوو، نو محمد ﷺ ورته وایي: قسم په الله اې تره! که لمر په یوه لاس او سپوږمۍ په بل لاس کې راکړې نو له دې دعوته او له دې مشن او مبارزې به لاس په سر نشم.

نو د مقدمې خلاصه دا شوه چې که د پاکستان په شمول هر طاغوتي نظام وي ،دا باید له بیخ او بنیاد څخه ړنګ شي دوی سره هیڅ قسم جوړجاری ونشي او د تورې په واسطه دوی سم او سیده شي.

نن سبا وطني ډلو ټپلو کفار او همدا طواغیت د قومیت د ګنده عقېدې په اساس په مسلمانانو زړور کړي، هغوی ورته سخته وایي دوی ورته زارۍ کوي، هغوی یې وژني دوی ورته همغسې د عدم تشدد وړاندیزونه کوي، همدې قومپرستو ډلو ، ټپلو د الله عزوجل د قانون په ځای له خپل ځانه نوی دین ایجاد کړی دی، د الله عزوجل احکام تحریفوي ، په ځای ددې چې ددغه طاغوتي نظامونو جرړې پرې کړي ،دوی سره د عدم تشدد په ځای له تشدد څخه کار واخلي ، دوی ورسره معاملې کوي ، په یو څه ورکړه او یو څه

راکړه ورسره راضي کيږي ، که همدا طواغيت دوی ته د دوی د قوميت په اساس حقوق ورکړي نو نور يي بيا ورسره کار نه شته ، که دا طواغيت هر کفر کوي او که دا طواغيت په بل هر ځاې کې هر مسلمانان باندې هر وحشت کوي خو چې هغه د ظلم تر پل لاندې مسلمان ددغه قومپرستو له ډلې نه وي نو دوی يي په کېسه کې نه وي خو برعکس ددې قومپرستو ډلو تپلو په خلاف بيا نو د حقيقي مسلمانانو خبره يوه ده که کفار په غربي افريقا کې مسلمانانو سره د جګړې اعلان کوي نو د خراسان مسلمانان به هم د غربي افريقا د مسلمانو ورونو په ملاتړ دلته کفارو سره د جنګ اعلان کوي ، دا ځکه چې ټول مسلمانان د يو جسد حيثيت لري ، دا په قومونو ويش ددې لپاره نه دی چې يو څوک دې د مسلمانۍ دعوه هم کوي او بيا دې د دوستۍ او دښمنۍ معيار قوميت وي ، نه داسې نه ده ، بلکې د مسلمانانو د ولاء او براء معيار اسلام دی .

نو د همدې لپاره سيکولريزم د مسلمانانو مفکوره بدله کړې، مسلمانان يې ټوټه ټوټه کړي، په کرښو او هېوادونو يې ويشلي، د هر وطن معيارونه يې جلا کړي، د پاکستان په مسلمانانو چې څه تېرېږي د افغانستان مسلمانان يې خپل نه ګڼي که د شرقي ترکستان په مسلمانانو څه حالات تېرېږي، وژل کيږي، په ناموس يې تيری کيږي خو د افغانستان مسلمانان يې د پوښتنې حق نه لري ځکه هغه د دوی د وطن نه دي او همداسې نور ګڼ مسائل د همدې سيکولريزم د فکري او جغرافيوي ويشنې شاته پراته دي، خو د اسلام په سياسي نظام کې بيا دا خبره بدله ده د ټولې اسلامي خاورې خبره يوه خبره او ټول امت يو امت دی.

الله رب العالمین فرمایي: ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ﴾ [سورة النحل 36].

ژباړه: او موږ په هر امت کې یو پیغمبر لیږلی چې هغه ورته ویل تاسې د الله بندګي وکړئ، او د طاغوت له بندګۍ ځان وژغورئ.

الله رب العالمین د ټولو انبیاؤ د بعثت او د رالیږلو یو هدف ذکر کوي، هغه دا چې د الله رب العالمین عبادت او د طاغوت څخه اجتناب وشي او د طاغوت څخه خلک د بیزارۍ اعلان وکړي او د هغه څخه ځان او نور مسلمانان هم لرې وساتي.

نن سبا دښمن په دې ډېر کار او هڅه کوي ترڅو ځینې خلک په یو ډول نه یو ډول د یو طاغوت په عبادت بوخت کړي مختلفې ډلې یې ګمارلي چې د دښمن له لورې همدې خپور شوي فکر ته کار وکړي .

ځکه د سلفو نه نقل دي چې چا هم خپل نفس د خیر کار کې مصروف نکړ نو شیطان یې د باطل په خدمت کې مصروفوي او که څوک د الله د دین عسکر (مجاهد) ونه ګرځي نو شیطان یې بیا د طاغوت عسکر جوړوي الا ماشاءالله که یو نیم کس ته الله متعال نجات ورکړي خو تاسو عملاً یو ځل وګورئ چې نن سبا چا د اسلامي نظام قیام لپاره کار ندی کړی، نو په یو ډول نه په یو ډول د طاغوت په خدمت بوخت دی، د اسلامي نظام په یو مجاهد به اعتراض کوي خو خپله به بیا په همدا غټ سر د کفارو معاش خور او د طاغوتي نظام یو ذلیله عسکر او فرد وي.

څوک مبارزه کوي چې سیکولریزم حاکم کړي، څوک د کمونیزم د حاکمیت لپاره قرباني ورکوي او څوک هم د نورو طاغوتي نظامونو لپاره خپل سرونه خاورې کوي، ځینو بیا د بین الملل طوق لعنت په خپله غاړه کې اچولی دی

او لګیا دي ځانونه د بین الملل طاغوتي قوانینو عملي کولو ته تیاروي، څوک د عدم تشدد بغارې وهي او څوک په یو او څوک په بل ډول په مختلفو نومونو او شکلونو د کفري او طاغوتي نظامونو په چوپړ بوخت وي، یواځې د حقیقي مجاهدینو قتال او فعالیت د همدې هدف لپاره دی چې په درسته نړۍ د الله عزوجل نظام حاکم شي .

همداسې مشروع مبارزه فقط د اعلاء کلمة الله لپاره کیږي، کومه مبارزه چې د الله د کلیمې د لوړاوي لپاره کیږي،فقط همدغه مشروع جګړه ده او بس، له دې غیر نورې ټولې مبارزې او جګړې که هغه د وطن لپاره وي که د قوم لپاره وي او که په نورو نومونو وي د جاهلیت جګړې دي.

عن أبي موسى الأشعري قال: «سُئِلَ رَسُولُ الله ﷺ عَنْ الرَّجُلِ: يُقَاتِلُ شَجَاعَةً، وَيُقَاتِلُ حَمِيَّةً، وَيُقَاتِلُ رِيَاءً، أَيُّ ذَلِكَ فِي سَبِيلِ الله؟ فَقَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم: مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ الله هِيَ الْعُلْيَا، فَهُوَ فِي سَبِيلِ الله». ﴿صحيح – متفق عليه﴾

ژباړه : ابو موسی اشعري فرمایي له رسول الله ﷺ څخه د یو کس باره کې وپوښتل شو چې د بهادرۍ له وجې جنګیږي، یا د غیرت له وجې جنګیږي (وطنیت، قومیت، لسانیت) او یا د ریا کارۍ (ځان ښودنې) له وجې جنګیږي، کوم یو له دوی څخه د الله ﷻ په لاره کې دی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې د الله عزوجل د کلیمې د لوړاوي لپاره وجنګېد دغه کس د الله په لاره کې دی.

نو مالومه شوه هغه جګړه مشروعه ده چې د کلیمې د لوړاوي لپاره وي او د همدې لپاره امر شوی، د اسلام د سیاسي نظام یو صفت دا دی چې دا به نړیوال وي، په کومه محدوده او خاورې په احاطه کې به راګېر نه وي، د

دې نظام له تأسيس څخه پيل تر قيامته به دا نظام اسلامي او عالمي وي، ځکه الله تعالی خپل رسول ته فرمايي:

﴿قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ فَآمِنُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴾[الأعراف:158]

ژباړه : اې پيغمبره ووايه : اې انسانانو! زه ستاسې ټولو لوري ته د هغه الله استازی يم چې د آسمانونو او ځمکې د باچاهۍ مالک دی، له هغه پرته بل اله نشته، هماغه ژوند ښښي او همغه مرګ ورکوي، نو پر الله او د هغه پر هغه نبي اُمي استازي ايمان راوړئ، چې الله او د هغه ښونې مني او د هغه پيروي غوره کړئ، هيله ده چې تاسې سمه لاره ومومئ.

الله ﷻ رسول الله ﷺ د يو قوم لپاره نه دی رالیږلی، بلکې د نړۍ انسانانو او پېريانو ته يې رالیږلی، بل نبي دنيا ته نه راځي، نو اسلامي نظام به د يوې منطقې پورې محدود نه وي، بلکې د اسلام سياسي نظام به نړېوال نظام وي، کومې کرښې چې کفارو کش کړي، دا به له منځه ځي، ټول مسلمانان به په يو نظام او يو رهبر يعنې خليفه باندې راټولیږي، نو هر مسلمان ته په کار ده چې يو نړېوال فکر ولري، تر يو سيمې يې نظريه محدوده نه وي، او نه ورسره فقط د خپل قوم غم وي ، بايد د نړۍ په هر ګوټ کې د مسلمان په درد ودردېږي او په خوشحالۍ يې خوشحاله شي او د قوم پرستۍ او ډله بازۍ څخه ځان لرې وساتي يعنې د عدم تشدد فکر او عقيدې څخه ځانونه لرې وساتئ، چې دوی د قوميت په مرض اخته دي، دا يو داسې مرض دی چې د کنسر نه هم سخت مرض دی، د دنيا په ګوټ ګوټ کې مسلمانان دې د کفارو او مرتدينو په زندانونو کې شکنجه کيږي، د مسلمانانو د خويندو

بې عزتي دې کيږي، د نړۍ کوم هېواد نه دی چې د هغوی په زندانو کې نن مسلمانې خويندې د اسارت شپې او ورځې نه تېروي؟

د همدې پاکستاني رياست زندانونو کې په زرګونه خويندې اسيرانې دي د هغوی خلاصون مهم دی که بجلي برق ارزانه کول او بلاک شوي شناختي کارډونو خلاصول مهم دي ؟

رسول الله ﷺ فرمايي: "چې ماته الله ﷻ پنځه شيان راکړي چې له ما څخه مخکې پيغمبرانو ته يې نه دي ورکړي، يو د هغې څخه دادی چې زه د ټولو انسانانو لپاره رالېږل شوی يم، يوه خبره ياد ساتئ ورونو چې مسلمانان به په امتحاناتو او په ستونزو کې وي که هرڅومره سخت حالات پر موږ راشي، بايد خپله عقيده او منهج له لاسه ورنه کړو، لږ ملګري دې وي خو مخلص او صفا عقيدې والا دې وي، ډېر خلک دي چې لږ فشار پرې راشي بيا مرتدينو ته د مرستې او د همکارۍ چغې وهي، د الله د مدد څخه يې طمعه قطعه شي، تاسې به ځان سره دا قاعده ليکئ چې د رسول الله ﷺ امت مرتدينو ته ضرورت نه لري، دا بايد ستاسې شعار وي او همدارنګه اسلامي دولت د هېڅ مرتد مرستې ته ضرورت نه لري او نه يې اخلي، ګوره د حديبيې په سوله کې رسول الله ﷺ مشرکينو سره دا خبره ليکلې وه چې که چېرته د مسلمانانو نه څوک تاسې ته درغی يعنی مرتد شو بېرته يې موږ ته مه رالېږئ، زموږ ورته ضرورت نشته.

مسلمانان به دې لپاره مبارزه کوي چې کوم ربعي بن عامر فرمايلي دي هغه وايي: " الله ﷻ موږ د دې لپاره رالېږلي يو چې بنده ګان د بنده د بنده ګۍ څخه د الله ﷻ بنده ګۍ ته را دعوت کړو، دا د يو مسلمان او يو مجاهد تلپاتې وظيفه او مسؤليت دی ، چې د اسلام په سياسي نظام کې په هر ډګر

کې باید ته د همدې وظیفې لپاره کار وکړې ترڅو هر طرف او په هر کنج کې خلک د الله بندګۍ ته رادعوت شي که هغه په نرمه ژبه باندې دعوت وي او که په قتال وي.

په اصل کې د دیموکراسۍ مبارزه د اسلام سره په همدې ټکي ده چې دیموکراسي وایي د خلکو رایې ته احترام په کار دی او اسلام وایي چې نه د الله رایه او قانون ته غاړه ایښودل په کار دي، جمهوریت او دیموکراسي بنده ګان اخلي د بنده په بنده ګۍ یې تړي او اسلامي نظام غواړي خلک د داسې غلامۍ او د بنده د بندګۍ څخه د الله رب العالمین بندګۍ طرف ته سوق کړي که هغه پاکستان کې دي او که افغانستان کې دي او یا د نړۍ په هر ګوټ کې دي، نه داسې لکه د قومپرستو په څېر چې د همدې کفارو او طواغیتو سره د قتال په ځاي د عدم تشدد لار غوره کوي اسلام ته یې شا کړه ، ځکه یې نو د اسلام احکام هم تر پښو لاندې کړل او د پاکستاني ریاست څوکیداري یې شروع کړه، که څه هم په ظاهره یې په خلاف نارې وهي خو په حقیقت کې د هغوی په فیصلو باندې راضي شول، هغوی ته په احترام قایل دي او هغوی ته په دواړو لاسونو سلامي کوي.

او باید د هر مؤمن شعار دا وي چې زما له لمانځه څخه شروع هر عبادت او هره مبارزه به د الله متعال لپاره وي نه د قوم لپاره، خو دغه سیکولرستان د خپلې هرې مبارزې او خوارۍ لکۍ په خپل قوم پورې تړي، خو الله عزوجل په دې اړه بیا فرمایي : ﴿ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾

ژباړه : زما لمونځ زما عبادت ټول مراسم ، زما ژوند زما مرګ هر څه د کایناتو د پالونکي الله لپاره دي .

نو له پورته بحث څخه مو هدف دا دی چې که د هر قوم او هر وطن والا ځانونه مسلمانان بولي نو هغوی ته اسلام د ژوند د هرې لارې لپاره ځانګړې تګلارې تعین کړي دي ، دوی نه شي کولای چې د مسلمانۍ د دعوی سره ، سره د خپل ژوند تیرولو لپاره خپل وضعي قوانین جوړ کړي، که غواړي چې خپل حقوق ترلاسه کړي ، د ظالم څخه د ظلم پوښتنه وکړي ، له ظالمانو او غاصبانو څخه خپل حق واخلي نو دې لپاره هم اسلام خپله تګلاره وړاندې کړې ده ، داسې نه ده چې دوی په خپلو جوړو کړو لارو لاړ شي او بیا د خپل خواهش اړوند مبارزې ته د اسلام په سیوري کې د خپلې برحق مبارزې نوم ورکړي ، نو په همدې اساس لازمه ده چې د اسلام د اصولو او تګلارې خلاف په همدې لړ کې د ځینو قومپرستو ډلو د عدم تشدد په فلسفه او تګلاره د اسلام په رڼا کې بحث وکړو .

لرې نه ځو په دې بحث نه کړو چې د څو لسیزو راپدیخوا د پښتون غیرتي قوم د مشرۍ واګې له باچاخانه رانیولې تر منظوره د داسې چا لاس ته غورځول کیږي چې دوی همدا قوم د اسلام د اساساتو په خلاف په نورو لارو روانوي ، لسګونه کلونه وشول چې دوی د عدم تشدد شعارونه په داسې حال کې ورکوي چې له همدې قوم څخه مختلف حقونه د همدې شعار لاندې تروړل کیږي ، تر اوسه یې له همدې پالیسې او فلسفې قوم ته د یو فیصد فایده نه ده رسیدلې .

ډیره د افسوس خبره بیا داده چې د قومپرستۍ ، وطنیت او قومیت دغې داعیې او مبارزې ته د اسلام رنګ ورکوي ، د دوی په لیکو کې هغه ملایان چې لا له پخوا په مختلفو ډؤلونو بدنام او په ټولنه کې منفور وو، خپله دا قومپالنه رسول الله صل الله علیه وسلم ته منسوبوي او په دې اړه مختلف

شبهات راولاړوي ، کله وايي چې رسول الله صل الله عليه وسلم باندې خپل قوم ګران و، خپل وطن مکه ورته ګرانه وه زړه يي نه کيده ترې لاړ شي ، په مدينه کې يي هم د مکې ارمان کاوه ، او زموږ مبارزه د ظالم په خلاف ده او د ظالم څخه د خپل حق په اخستو او دفاع کې چې ووژل شوې نو ته شهيد يي ، ځکه نو زموږ د قومپرسته ډلې غړي چې وژل کيږي نو د خپل حق په دفاع کې وژل کيږي او د وطن سره مينه ايمان دی ( حب الوطن من الايمان ) دغسې بې شميره شبهات راولاړوي او پښتانه د اسلام په ځاې د قوميت په ګنده عقيده راټولوي .

نو مخکې له دې چې ددغه پښتون ژغورنې غورځنګ په نامه د يو قومپرست تنظيم په مبارزه ، هلو ، ځلو او په دې وروستيو کې د جرګې په نامه د مجاهدينو په خلاف د پښتون قوم د انسجام په اړه بحث وکړو، نو لومړی به په دې وغږيږو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د اسلام د مبين دين په مقابل کې د خپل قوم سره څه وکړل، د دوی نورو اړوندو شبهاتو ځواب څه دی ؟

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په حديبيه کې عثمان رضي الله عنه خپل قوم قريشو ته وليږه ، کله چې عثمان رضي الله عنه وځنډيد، دوی فکر وکړ چې قريشو عثمان رضي الله عنه شهيد کړی دی ، نو دلته رسول الله صلی الله عليه وسلم او ټول صحابه سره په مرګ بيعت کوي وايي چې ترڅو مو د خپل ملګري وينه نه وي ګټلې نو بيرته نه ستنيږو ، اګر که ټول شهيدان شو خو د خپل ملګري پوښتنه به خامخا کوو، په مرګ يي بيعتونه وکړل ، خو اوس راشئ د دوی حال ته وګورئ چې هر ځل د دوی د ملګرو وينې

تویوي خو د دوی عقیده په غیر تشدد لا مظبوطیږي ، او د خپلو ملګرو قاتلانو ته دوه لاسي سلامونه کوي.

مخکې مو وویل چې له دې غیر تشدد څخه د دوی مخکنیو مشرانو کوم خیر کتلی چې اوس دوی د همغوی په لار خپل مزل پیل کړی ، نو ټول دې پوه شې چې دوی کې فساد شته دی ، له الهي آیین څخه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د بشر په حق کې عادل با انصافه رحم کونکی ائین او انسان بل نشته او نه راځي چې هغه عادل دین او قانون او رهبر یې د ظالم خلاف د جګړې ستراتیژي مطرح کوي او نظامي مبارزه اعلانوي نو باید هر مسلمانان وربانديې اعتراف وکړي چې هو له دې پرته بله د حل لاره نشته دی.

﴿فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا﴾ ﴿النساء: 65﴾

ژباړه: نه، اې محمد (صلی الله علیه وسلم ) ستا په رب قسم چې دوی هېڅکله مؤمنان کېدای نشي، ترڅو چې په خپل منځي شخړو کې تا فیصله کوونکی ونه مني. بیا چې ته څه فیصله وکړې، پر هغې باندې په خپلو زړونو کې هم څه تنګي احساس نه کړي؛ بلکې سر تر پایه یې ومني.

مفسرینو ویلي دي: الله تعالی په خپل عزتمند پاک نفس قسم کړی دی په دې خبره چې هېڅوک مؤمن نه دی ،تر دې چې رسول الله ﷺ په خپلو ټولو کارونو کې حاکم کړي نو پر څه چې هغه (رسول الله ﷺ) فیصله کړې، هغه حق دی چې په ښکاره او پټه یې تابعداري واجب ده.

هر وخت چې کفارو مسلمانانو سره په جګړه کې د مسلمانانو فکر او عقیده یرغمل کړه، او په مختلفو بهانو او پلمو یې پرې خپل کفري اصول او قوانین

ومنل نو خود به خوده جګړه ختموي او بيا نو د سولې، رفا او ترقۍ په نومونو د مسلمانانو د غولونې په پار خپلې ظاهراً صميمي خو په باطن کې له زهرو ډکې اړيکي او تعاملات پالي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم مکه خوشې کړه خو اسلام يې کلک ونيولو د قوم دفاع به هغه وخت کوو چی د اسلام دفاع پکې پرته وي.

د مکی نه مدينې ته هجرت يې د قوميت لپاره نه وه، بلکی د اسلام لپاره وه، کنه قوم خو رسول الله ته هر څه پشنهاد کړل ، مګر هغه ونه منل او هجرت يی وکړ او قوميت يې تر پښو لاندې کړ.

د بدر او احد جنګونه د قوم په دفاع کې نه ، بلکې خپل قوم سره د اسلام په سر وشول نو اسلاميت ته به اول پام کوئ که د اسلام عزت د قوم په دفاع کې وه دفاع يې وکړئ او که د اسلام ساتل دقوم سره په دښمنۍ کې وو، نو لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د اسلام په سر خپل قوم سره دښمنۍ ته تيار شو نو بايد څوک يي چې د امت دعوه کوي هغوی هم بايد د اسلام په سر خپل قوم سره دښمنۍ ته تيار شي .

په قوميت او نسب کې به له ورور ، پلار ، زوی څخه نوره نيږدې رشته کومه يوه وي ، خو کله چې دې قوم او يا دا ټول د اسلام په خلاف ودريدل نو دلته د نسب او قوم رشتې ټولې پرې کيږي دا يوه رشته پالل هم بيا جائز نه دي ، بيا نو دغه ټول د دښمنۍ قالب ته لويږي او بيا به ورسره جګړه کيږي او اسلام يي د وژلو امر کړی ، تاسې خو لږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه و سيرت مطالعه کړئ .

دا د الله متعال تقديري فيصله وه چې لومړۍ غزا يې د يوې قبيلې، يوه کلي او يوې کورنۍ ترمنځ د اسلام په سر رامنځ ته کړه، تر دې چې په دغه مبارکه

غزا کې پلار خپل زوی قتل کړ او زوی د پلار د قتل اراده وکړه او د دغه قتلونو اساس او علت همدا عقیده او نبوي منهج و.

یانې د وینې لومړني څاڅکي چې تویېږي نو د خپلې قبیلې، کورنۍ او د وطن د وګړو تویېږي، ځکه حکمت دا دی چې ددغې سپیڅلې عقیدې او منهج په سر چې د خپلې قبیلې، کورنۍ د پلار او ورور په شمول د هغوی خیال او پروا نه ساتل کېږي او د اسلام مقابل کې د هغوی سره نرمي او چشم پوشي نه کېږي نو د الله رب العالمین قانون او نظام لپاره خو د نورو خلکو لحاظ او خیال ساتل خو بیخي نه شته.

تاسې څه فکر کوئ! آیا قریش یو قوم نه و؟

آیا دوی د یوې قبیلې، یوه کلي او یوې کورنۍ خلک نه ول؟

څنګه یې نو د همدې اسلام په سر سره خپلو کې قتال وکړ؟

علت معلوم او ښکاره دی هغه دا چې هر څوک په هر نامه او جامه کې چې د اسلامي نظام مقابل کې ولاړ او د غلام په شان د بادارو حکمونه په ځای کوي نو دوی سره به قتال کېږي تر هغه چې دوی مات او دین په ټوله معنی حاکم شي.

مسلمانان باید همداسې عقیده خپله کړي، لومړی به خپلو خپلوانو او قومي سره پوره سختي او دښمني کوي او یو پردي مسلمان ورور سره به نرمي او دوستي کوئ.

رسول الله ﷺ سلمان فارسي باره کې وایي چې دا زما له اهله دی، خو بیا خپلو ترونو (ابولهب او ابوجهل) ته بد دعاوې کوي او د هغوی قتل پسې ګرځي.

ابوجهل عرب و، بیا قریش و، بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم له کورنۍ څخه و د هغه تره وه خو چې د اسلام په مقابله کې ولاړ و، نو دښمن حسابېده.

د بدر په ورځ چې مجاهدین کم وو، نو ډېرو خلکو وړاندیز وکړ چې موږ ستاسې مرسته کوو دا چې عقیده یې برابره نه وه، نو رسول الله ﷺ ورته ځواب ورکړ او د هغوی مرسته یې قبوله نکړه.

که په هر وخت کې ډېر خلک د نړۍ له کفارو سره له ډغري وهلو څخه ویرېږي خو بیا په هره زمانه کې داسې یوه وړه ډله پیدا شوې چې د هېڅ شي پروا یې نه ده کړې او د ټولې نړۍ کفارو ته یې د مقابلې چېلنج ورکړی او الله رب العالمین همدې وړې ډلې ته بیا بریا هم ورکړې ده.

نو الله عزوجل د بدر په ورځ هم بدریانو ته وایي چې اوس وکړئ څه چې کوئ، یعنې ستاسې عقیدې چې دومره مظبوطې دي چې د اسلام لپاره د خپل ورور او زوی په وژلو هم نه ایسارېږئ نو الله عزوجل تاسې ته عفوه وکړه.

لکه څنګه مو چې پورته ذکر کړه چې ددې ډلې ډېری بلاعمه چې د علم او د شیخۍ دعوه لري دا هڅه کوي چې د شریعت د نصوصو په تحریفولو سره د طاغوت په لار کې خپلې مبارزې ته مشروعیت ورکړي، د ځینو دلایلو په تراشلو سره مسلمانانو ته شبهات وراچوي او د ګمراه کولو هڅه یې کوي، دوی د خپلې باطلې مبارزې  د اثبات لپاره حدیث د مسند احمد پیش کوي چې نبي علیه السلام فرمایې: ما من مسلم يظلم بمظلمة فيقاتل فيقتل إلا قُتل شهيدًا» (رواه أحمد، الحديث الرقم  .(6619نشته یو مسلمان چې ظلم ورباندې کیږي او هغه جنګ وکړي ووژل شي مګر دا به شهید وي،

او په دې معنا نورو هغو احادیثو ته اشاره کوي چې د ځان او د مال په دفاع کې د وژل شوي د شهادت حکم په کې ذکر دی، او همداراز د پخوانیو پیغمبرانو د دعوت نه استدلال په قومیت سره کوي چې هغوی په یا قومنا سره خطاب کړی او یا مسلمون یې نه دي ویلې او د خپل قوم د ازادۍ لپاره یې هڅه کړې، او بیا په همدې لړ کې د ځینو هغو بلاعمه وو فتوا ته اشاره کوي چې د دیوبندیزم د پلیت ډنډ څخه خړوب شوي دي هغه چې د بودایانو د خاوري په دفاع کې وژل شوي هم شهیدان بولي او د ډیموکراسۍ ډه‌ډه پاکستان څخه په دفاع کې وژل شوي هم شهیدان بولي، او دوی هم د قومیت د نارو په بدرګو سره په همدې لاره کې خپل وژل شوي شهیدان بولي او د دوی په دغه شعارونو تیروتي ځوانان هم همداسې فکر کوي چې د قومیت په دې مبارزه کې چې ددې قومپرسته منظورخیلو په څنګ کې ووژل شوې نو ته شهید یې .

نو د الله تعالی نه په مدد غوښتلو سره د دوی د استدلالاتو ځواب ته راځو: د مسند احمد د ذکر شوي حدیث او په دې معنا چې نور کوم احادیث راغلي دي چې د مال، ځان او عزت په دفاع کې وژلی شوي ته په کې شهید ویلي شوي دي نو دغه احادیث د مظلوم مسلمان په اړه حق دی، خو مونږ د دغه ملتپاله او وطنپاله خوځښتونو والاو څخه پوښتنه کوو چې ایا تاسو د دغه حدیث قیودات عملي کړي دي چې مړو ته مو شهیدان وویلی شي، د دغه حدیث عمده قید خو اسلام دی چې دا په تاسې کې نه لیدل کیږي ځکه د اسلام ډیری نواقض مو اختیار کړي او د کلیمې شرائط مو نقض کړي دي، د کلیمې په شرائطو کې چې انقیاد، قبول او کفر بالطاغوت راځي هغه مو نقض کړي دي، نو د شریعت ډیری احکام مو ترک کړي او رد کړي دي او د

ملتپالنې او وطنپالنې په طاغوت مو ایمان راوړی دی او هم مو په ډیموکراسۍ، وضعي قوانینو او تړو ایمان راوړی، حال دا چې علماء دغه شرطونه په اسلام باندې د دوام لپاره یا له ابتداء څخه د اسلام د صحت لپاره شرط کوي، حافظ ابن حجر رحمه الله د دې حدیث په شرح کې چې نبي علیه السلام فرمایي: أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا الله...[مسند أحمد: 8340]، ویلي دي: ومن الحديث نعرف أن العبد إذا قال لا إله إلا الله، يُعصَمُ ماله ودمه، وهل يصير بذلك مسلما؟ الراجح لا، حتى يُنظر في التزامه بأحكام الشريعة.ا.هـ [كما في الفتح 12/ 279]، ژباړه: له دې حدیث څخه دا فایده معلومیږي چې یو بنده کله لا اله الا الله کلیمه ووایې نو مال او وینه یې بچ کیږي، خو آیا په دې سره مسلمان ګرځي او که نه؟ راجح دا ده چې مسلمان نه ګرځي تر څو چې یې د شریعت د احکامو پابندۍ ته کتنه نه وي شوې.

او امام بغوي رحمه الله ویلي دي: أن العبد إذا تلفظ بالشهادة يجبر على الإلتزام بأحكام الشريعة. ژباړه: کله چې یو بنده کلیمه د شهادت ووایې نو د شریعت د احکامو د پابندۍ په اړه به وربانديې زور کیدلی شي.

ابن حجر رحمه الله د بغوي رحمه الله د خبرې په شرحه کې وایې: ويفهم من قوله "يُجبر" أنه إذا لم يلتزم يصير مرتدا. ا.هـ. ژباړه: له دې خبرې څخه "چې زور به وربانديې کیدلی شي"؛ دا معلومیږي چې که چیرې د شریعت د احکامو پابندي ونکړي نو مرتد به وي.

او شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په خپلې فتاوی [اووم جلد، صـ 396] کې ویلي دي: الإقرار لابد أن يُتضمن التصديقُ والإلتزامُ. ا.هـ. ژباړه: د اقرار سره د کلیمې تصدیق او د احکامو پابندي لازم ده.

نو تاسو د کليمې په دغه شرطونو کوم ځای کې دوام وکړ،چې اسلام مو ابتداءً يا استمرارا صحيح شي؟ تاسو خو د اسلام په ځای د پښتو د روايتونو قائل ياست، طواغيتو ته د فيصلې وړلو قائل ياست، د وطنيت او قوميت قائل ياست، د سيکولريزم او نشنلېزم قائل ياست، د کفارو او مشرکينو د محبت او دوستانې قائل ياست، د دوستۍ او دښمنۍ معيار مو اسلام نه ، بلکې قوميت دی ، د خپل پښتون قوم ملحد ، مشرک ، مرتد ورور بولئ خو د بل قوم مسلمان درته پردی ښکاري ، د نبي عليه السلام د تابعدارۍ په ځای د خپلو طاغوتي مشرانو د تابعدارۍ قائل ياست، نو آيا له دې وروسته به هم تاسو ته مسلمانان ويل صحيح وي او مړو ته به مو شهيدان ويل صحيح وي؟ نا هيڅکله نا، تر څو چې تاسو د کليمې شرطونه نه وي عملي کړي او د اسلام له نواقضو څخه مو توبه نه وي کړې اسلام مو صحيح نه دی، نو کله چې مو اسلام صحيح نشو؛ ظلماً وژل شوو ته مو شهيدان ويل هم صحيح نشو، بلکې ظالمان د ظالمانو په مقابل کې وژل کيږي: إن الشرك لظلم عظيم، شرک تر ټولو لوی ظلم دی چې تاسو يې په مختلفو ډولونو کې اخته ياست، او که هر مظلوم ته د ظالم په مقابل کې د شهادت قائل ياست نو بيا خو بايد د اوکرائين عسکرو ته هم دغه لقب ورکړئ ځکه چې هغوی هم د روس د استبداد په مقابل کې وژل کيږي!!

او کوم استدلال چې  دوی د پخوانيو پيغمبرانو د خطاب څخه کوي  نو له هغې څخه يې ځواب دا دی چې د نبي عليه السلام نه مخکې چې څومره پيغمبران هم راغلي دي هغوی يوازې يو قوم ته راليږل شوي او د ټولې نړۍ خلکو ته نه دي راليږل شوي،  نو ځکه خو يې خطاب په يا قومنا سره کړی دی، هغوی په دغه خطاب سره قومپالنې، وطنپالنې، سيکولريزم او نشنلېزم

ته دعوت نه دی کړی بلکې الله ته یې خلک رابللي دي: الله تعالی د هغوی د دعوت په اړه فرمایلي دی: وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ،

موږ په هر اُمت کې یو پیغمبر پیدا کړ (ولیږه)، او د هغه په وسیله مو ټول خبر کړل چې: د الله بندګي وکړئ او د طاغوت له بندګۍ څخه ځان وژغورئ.

نو دا د ټولو پیغمبرانو د دعوت خلاصه ده او د بخاري په حدیث کې راغلي دي نبي علیه السلام په خپلو خصوصیاتو کې یو دا خصوصیت شمار کړی دی فرمایلي دي: وكانَ النبيُّ يُبْعَثُ إلى قَوْمِهِ خَاصَّةً وبُعِثْتُ إلى النَّاسِ عَامَّةً.

مخکې به پیغمبر یوازې خپل قوم ته لیږل کیدو خو زه ټولو خلکو ته رالیږل شوی یم، نو نبي علیه السلام د ټولې نړۍ انسانانو او پیریانو ته رالیږل شوی نو له هغې وروسته نشنلیزم ته څه اړتیا ده؟!

د اسلام په مقابل کې د قومیت او وطنیت په دفاع کې وژل شوي شهیدان نه دي ، ځکه دا خبره مخکې ذکر شوه چې د متجاوزینو په مقابل کې د شهادت لپاره اسلام شرط دی ، تاسې خو له لومړي سره د قومیت بویناکه نارې پورته کړي دي ، او بیا د همدې لارې هم څه د اسلامي نظام د قیام لپاره خو مبارزه نه کوئ بلکې ټوله مبارزه مو د همدې لپاره ده چې د قومیت د همدې ګنده عقیدې پر بنسټ د اسلامي نظام په مقابل کې خپلې قومې ترې وضعي قوانین او په ټوله کې جمهوریت تطبیق کړئ ، نو ستاسې د قومپرستو اسلام د ډیرو لاملونو له امله مات شوی دی چې بیان یې په دې ډول دی: تاسې د اسلام څخه سوا بل دین او قانون قبول کړی چې ډیموکراسي ده الله عز وجل فرمایي:

وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِى الْءَاخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِينَ [سُورَةُ آل عِمرَان : 85]

له اسلام څخه پرته چې هر څوك كوم بل دين غوره كړي، هيڅكله به ورڅخه قبول نكړی شي او په اخرت كي به ناكام او زيانمن وي.

ستاسې د قوميت ترې د شريعت خلاف قانون سازي ده او تاسې د همدې قومي وضعي قانون څخه دفاع كوئ د اسلام په ځاې د خپل پښتون قوم دود دستور او ترو ، فيصلو ته ژمن ياست ، مشر منظور پښتون مو په واز كومې دا اعلان كوې چې قوم يي هره پريكړه وكړه ، دلته وركې كوم قيد نه ذكر كوي بس خلاص يي وايي چې كه هره پريكړه يي وكړه د هر چا د ابادۍ او د هر چا د ويجاړۍ پريكړه يي وكړه دوی ته د قبول وړ ده ، الله عز وجل فرمايې: أَمْ لَهُمْ شُرَكَٰٓؤُا شَرَعُوا لَهُم مِّنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَن بِهِ اللَّهُ ۚ

ايا دغه خلك له الله سره داسي شريكان نيسي، چي د دوی لپاره يې د دين داسې طريقې غوره كړي چي الله د هغې اجازه نده كړې

تاسې د كافرانو سره د هغوی په قانون كې تولّي كړې ده ځكه د تولّي يوه معنا د كافرانو د قانون تابعداري كول دي او تاسې په ښكاره او جاره د جمهوريت د راوستلو شعارونه وركوئ ، اسلامي نظام ، د اسلامي نظام راوستونكو مجاهدينو سره مو له بل هر چا زياته دښمني ده ، نو د دې ايت عموم درته شامل دی چې الله عز وجل فرمايې: يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصٰرٰىٓ أَوْلِيَآءَ  بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ  وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِينَ [سُورَةُ المَائدة : 51]

اې مؤمنانو! يهوديان او نصارا خپل ملګري مه نيسئ، دوی په خپلو منځو كښي سره ملګري دي. او كه ستاسې څخه څوك هغوی خپل ملګري نيسي،

نو بیا هغه هم په هماغو کښي شمېرل کيږي. په دي کښي شك نشته چي الله ظالمان له خپلي لاربښووني څخه بې برخي کوي.

د ډیموکراسۍ عبادت کوونکي د ځان نه د تحلیل تحریم وظیفه ترسره کوي شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وایې: والإنسان متى حلل الحرام – المجمع عليه – أو حرم الحلال – المجمع عليه – أو بدل الشرع – المجمع عليه – كان كافرا مرتدا باتفاق الفقهاء. [مجموع الفتاوى 3/ 267]، ژباړه: یو انسان چې کله اجماعي حرام حلال کړي یا اجماعي حلال حرام کړي یا د شریعت یو اجماعي حکم بدل کړي؛ نو هغه به د ټولو علماوو په اتفاق کافر مرتد وي.

دوی د اسلام نه سوا په بل قانون فیصله کوي الله عز وجل فرمايې: أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا إِلَى الطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا أَن يَكْفُرُوا بِهِۦ

ایا تا هغو خلکو ته نه دي کتلي چي دعوه کوي چي: موږ پر هغه کتاب چي تا ته راغلی دی او پر هغو کتابونو چي له تا څخه مخکي نازل شوي ول ایمان راوړیدی؟ – خو غواړي چي خپلي چاري د فېصلې لپاره د طاغوت لوري ته وړاندي کړي. او حال دا چې دوی ته امر شوی دی چې په طاغوت کفر وکړي. نو په دې ایت کې د هغه چا ایمان ته د دروغو ګومان ویل شوی دی چې طاغوت ته فیصله وړي.

نو هر کله چې د قومپرستو ، جمهوریت غوښتونکو او د ډیموکراسۍ عبادت کوونکو ایمان د دغه لاملونو له امله مات شوی دی نو وژل شوي یې شهیدان نه، بلکې جهنمیان دي او څنګه به یې وژل شوي شهیدان وي حال دا چې د طاغوت په لاره کې جنګیږي، تاسې که څه هم د پاکستاني طاغوت سره عملي جنګ نه کوئ که څه هم دوی سره عملي قتال د الله عزوجل حکم دی ، بلکې

تاسې د همدې طاغوت سره هم د خپل بل طاغوت د حاکمیت لپاره بله غیر مشروع مبارزه کوئ نو په دې اړه الله عز وجل فرمايي: الَّذِينَ ءَامَنُوا يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ الطَّٰغُوتِ فَقَٰتِلُوٓا أَوْلِيَآءَ الشَّيْطَٰنِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا [سُورَةُ النِّسَاء : 76] هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی د الله تعالی په لاره کې جنګیږي او هغه کسان چې کفر یې کړی دی د طاغوت په لاره کې جنګیږي نو د طاغوت د دوستانو سره وجنګیږئ یقیناً د شیطان دسیسې کمزورې دي.

نو د قومي طاغوتي لښکر وژل شوي څنګه په شهیدانو سره ونومول شي؟!

حال دا چې شهید یو شرعي لفظ دی خپله شرعي معنا لري چې په داسې مرتدینو یې فټ کول د شریعت په نصوصو کې تحریف کول دي، ځکه شهید د شریعت په اصطلاح کې هغه چاته وایې چې د الله تعالی په لار کې د اعلاء کلمة الله لپاره جنګیږي او بیا ووژل شي، نبي علیه السلام فرمايي: مَن قاتَل لتكونَ كلمةُ اللهِ هي العليا فهو في سبيلِ اللهِ عز وجل، (صحيح البخاري)، څوک چې د دې لپاره جنګیږي چې د الله تعالی کلیمه (د الله تعالی دین) لوړ شي نو هغه د الله په لاره کې دی، نو ایا د نشنلېزم یا د سیکولرېزم په لار کې جنګیدل جهاد دی؟ ایا د قومي او وطني ترو لپاره جنګیدل جهاد دی؟ ایا د بین الملل د قوانینو د تحفظ لپاره جنګیدل جهاد دی ؟ ایا د شریعت د مخنیوي لپاره جنګیدل جهاد دی؟ ایا د کفارو د راښکل شوو مصنوعي کرښو او سرحداتو د تحفظ لپاره جنګیدل جهاد دی؟ ایا هغه کس به مسلمان وي چې د اسلام په ځای قومپالنې او وطنپالنې ته خلک رابلي؟ ایا هغه کس به مسلمان وي چې د سپیڅلي نبوي منهج په خلاف څرګندونې کوي او په خلاف یې مبارزه کوي ؟ نا هیڅکله نا، دغه راز خلک دا د طاغوت د لښکر

جنګيالي دي او د طاغوت د لښکر جنګيالي هيڅکله مسلمانان نه دي الله تعالی فرمايي: وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ الطَّٰغُوتِ، نو د طاغوت په لار کې جنګيدونکي کافران دي، وژل شوي مرداران دي، د ترحم او د ښښنې غوښتلو مستحق نه دي بلکې د الله د غضب او د لعنت مستحق دي، نو څنګه به داسې کس په شهيد سره ونومول شي چې د اسلام مفاهيم يې بدل کړي، د اسلام په سر يې سودا کړې او د اسلام ډيری اساسات يې رنګ کړي او په ځای يي نشنليزم او قوميت ته خلک رابلي ، څنګه به داسې کس په شهيد سره ونومول شي چې د پاکستان د مرتد نظام اشغال ختموي او پر ځای يې قومي اشغال ، قومي تړې ، ديموکراسي او جمهوريت رامنځته کوي، ، يا د لارډ ميکالې د قانون اشغال ختموي خو پر ځای يې د نيشنلزم، سيکولريزم، صوفييزم او د پښتنو د روايتونو او تړو اشغال رامنځته کوي، دا خو داسې اشغال دی چې بيا ازادئ ته محتاج دی، د داسې اشغال په مقابل کې الله عز وجل مونږ ته د قتال امر کړی دی فرمايلي دي: وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ[سُورَةُ الأنفَال : 39]

او تر هغه د دوی سره وجنګيږئ تر څو چې هيڅ شرک پاتې نشي او دين ټول يوازې الله لره شي،

دوی د شيطان دوستان دي الله عز وجل فرمايې: فَقَٰتِلُوٓا أَوْلِيَآءَ الشَّيْطَٰنِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا.

ژباړه : د شيطان له دوستانو سره وجنګيږئ يقينا د شيطان دسيسې کمزورې دي.

مخکې له دې چې د پښتون ژغورنې قومپرست تنظیم په مبارزه ، او جرګه بحث وکړو نو لازمه ده چې لومړی د دوی په اهدافو او د اسلام له نظره په قومیت وغږیږو.

د قومیت او وطنیت په دفاع کې د راپورته شوي دغه سیکولر خوځښت له عمده اهدافو څخه دادي چې غواړي د اسلامي نظام صحیح تصور، د هغې تعلیماتو او احکامو ته د پای ټکی کیږدي او پر ځای یې د وطن پرستۍ او قوم پرستۍ پلیت نظریات حاکم کړي، او د پښتنو مسلمانانو په ذهنونو کې د دغه پلیتو نظریو محبت او تعظیم ورپیچکاري کړي، چې په نتیجه کې یې قومي او وطني اساساتو ته په اسلامي اساساتو ترجیح ورکړل شي، ولاء براء عقیده په کې له منځه لاړه شي، مرتدین په کې په وطني ورونو سره ونومول شي، د مسلمانانو تر منځ په ژبې، سمت او وطني کرښو جدایي راشي، اسلامي خواخوږي په وطني او قومي خواخوږۍ بدله شي، د مرتدینو په مقابل کې سپیڅلي جهاد ته د وروروژنې نوم ورکړی شي، او داسې نور ګڼ مفسد اهداف لري ، دوی د قومیت او وطنیت طاغوت منلی، د بین الملل طاغوتي قوانین یې منلي، د شریعت د اساسي احکامو په نه عملي کې متحد دي، د اسلامي خلافت ضد مبارزه کې متحد دي، تاسې به یې د اسلامي خلافت د مجاهدینو په خلاف پرپاېګنډې او څرګندونې اوریدلې وي ، که د پاکستاني طواغیتو سره د ظاهري دښمنۍ تمثیل کوي خو د نورې نړۍ طواغیتو او مرتدو نظامونو سره محبت او دوستانه اړیکې لري، خپلې فیصلې د اسلام په ځاې نړیوالو کفري محکمو ته وړاندې کوي او له هغوی څخه د فیصلو غوښتنه کوي ، د ملل ملحده ټول اصول یې منلي او د همغه اصولو او قوانینو لاندې د خپلو حقوقو د غوښتنې دعوه لري .

خو لله الحمد زمونږ اسلامي تعليمات د داسې ملتپاله ، وطنپاله او قومپرستو خوځښتونو په اړه واضحه دي، د دوی د فاسده نظرياتو او نعرو په اړه واضحه دي، په اسلام کې ملتپالنه او وطنپالنه ځای نه لري الله عز وجل فرمايي: إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ.

ژباړه : مومنان سره ورونه دي، خو ملتپالنه او وطنپالنه د اسلامي اخوت ضد ده،

بل ځای کې فرمايي: يَٰأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَٰكُمْ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ[سُورَةُ الحُجرَات : 13]

اې خلکو! موږ تاسي له يوه نارينه او يوې ښځي څخه پيدا کړئ او بيا مو تاسي قومونه او قبيلې وګرځولئ، تر څو چي تاسي يو او بل سره وپيژنئ. په حقيقت کښي د الله په وړاندي ستاسي څخه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوك دی چي په تاسي کښي تر ټولو زيات پرهېزګار وي. په باوري ډول الله په هر څه پوهېدونکی او باخبره دی.

خو ملتپالنه او وطنپالنه د حقيقي تقوی ضد ده،

نبي عليه السلام فرمايي: يا أيها الناس، ألا إن ربكم واحد وإن أباكم واحد، ألا لا فضل لعربي على عجمي ، ولا لعجمي على عربي، ولا أحمر على أسود ، ولا أسود على أحمر، إلا بالتقوى [رواه أحمد في مسنده حديث رقم: ٢٣٤٨٩].

ژباړه: ای خلکو خبردار ستاسو رب يو دی، پلار (ادم عليه السلام) مو يو دی، خبردار! د عربي په عجمي او عجمي په عربي هېڅ غوره والی نشته او نه سور په تور او تور په سور څه غوره والی لري پرته له تقوی څخه.

خو په ملتپالنه او وطنپالنه کې د تقوی معيار مات دی،

په حديث د بخاري کې راغلي دي چې صحابه يوې غزا ته وتلي وو نو د دوه صحابه وو خپل منځ کې جنګ شو هر يو خپلې ډلې ته آواز وکړ انصاري انصارو ته او مهاجر مهاجرينو ته آواز وکړ نبي عليه السلام چې کله خبر شو نو وېې فرمايل: ما بَالُ دَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ؟ قَالُوا : يَا رَسُولَ اللَّهِ كَسَعَ رَجُلٌ مِنْ الْمُهَاجِرِينَ رَجُلًا مِنْ الْأَنْصَارِ فَقَالَ : دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ [رواه البخاري: ٤٩٠٥].

ژباړه: څنګه د جاهليت آوازونه کوئ؟ صحابه و وويل: اې د الله رسوله، يو مهاجر يو انصار د شاه څخه په لته وواهه، نبي عليه السلام وفرمايل: دا چغي پرېږدئ دا بد بويه دي.

امام نووي رحمه الله د دغه حديث په شرحه کې ليکي: وَأَمَّا تَسْمِيَته صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَلِكَ دَعْوَى الْجَاهِلِيَّة فَهُوَ كَرَاهَة مِنْهُ لِذَلِكَ؛ فَإِنَّهُ مِمَّا كَانَتْ عَلَيْهِ الْجَاهِلِيَّة مِنْ التَّعَاضُدِ بِالْقَبَائِلِ فِي أُمُور الدُّنْيَا وَمُتَعَلَّقَاتِهَا، وَكَانَتْ الْجَاهِلِيَّة تَأْخُذ حُقُوقهَا بِالْعَصَبَاتِ وَالْقَبَائِلِ فَجَاءَ الْإِسْلَام بِإِبْطَالِ ذَلِكَ، وَفَصَلَ الْقَضَايَا بِالْأَحْكَامِ الشَّرْعِيَّة. اهـ

. ژباړه: هر چې نبي عليه السلام دې ته د جاهليت چغه ويلي دي نو دا يې د دغه کار بد ګڼلو له وجې ويلي دي ځکه جاهليت والاو به د دنيا په اړوندو کارونو کې په قبيلو سره مرسته حاصلوله او جاهليت والاو به خپل حقونه په خپلو عصبه او قبيلو سره اخستل نو اسلام دا هر څه باطل کړل او مسئلې يې په شرعي احکامو فيصله کړې.

د قومپالنې او وطنپالنې په لار کې وژل شوي د جاهليت مړي دي لکه په حديث د جندب بن عبد الله البجلي رضي الله عنه کې دي: نبي عليه السلام فرمايي: مَنْ قُتِلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ يَدْعُو عَصَبِيَّةً أَوْ يَنْصُرُ عَصَبِيَّةً فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ

[رواه مسلم: ۱۸۵۰]. ژباړه: څوک چې د ړوند بيرغ لاندې ووژل شو چې عصبيت ته يې خلک رابلل يا يې د عصبيت مرسته کوله نو مرګ يې د جاهليت دی.

نو له پورته بحث څخه جوته شوه چې د قوميت لپاره ناره پورته کول يا مبارزه کول شرعا مردود ده ، ډيری قومپرست تنظيمونه خو د همدې هدف لپاره رامنځ ته شوي چې د امت د تفرقې لپاره کار وکړي ، د ځوانانو فکرونه منحرف کړي ، همدې هدف ته د رسيدو لپاره زيات خلک بيا وچ کلک همدا د قومپرستۍ شعار پورته کوي او خپلو اهدافو ته ځان رسوي ، خو ډيری تنظيمونه بيا د جهاد د مقدس شعار لاندې همدغه د قوميت اهداف پالي ، دوی خبره د جهاد کوي ، د اسلامي شريعت د تطبيق غولونکي شعارونه ورکوي ، خو په اصل کې د دوی مبارزه هم بيا د قوميت تر تعصبه محدوده وي ، تاسې ګورئ چې ددې هرڅه باوجود ټي ټي پي بيا د خپلې تجارتي جګړې د تمويل لپاره په اسلامي احکامو پښې ږدي او د خپل پښتون قوم څنګ نيسي ، دوی ته هم د خپل قوم مرتد، مرتد نه ښکاري د بې هدفه جګړې ښکار شوی قومي او وطني خوځښت تحريک طالبان پاکستان، په پاکستان کې د خپل تائيد او مشروعيت او واک ته د رسيدلو لپاره په مختلفو ناروا هڅو بوخت دی کله هم نړيوالو کفارو ته خپله صفايي کوي او خپله مبارزه ورته په قومي او وطني جنګ ورپيژني ، تاسې به يي په همدې تړاو اړوند اعلاميي لوستې وي چې په کراتو يي د بين المللي کفري اصولو په منلو سره په واز کومې دا اعترافات کړي چې د دوی جګړه يوازې د وطنيت په عقيدوي او جغرافيوي کرښو کې رامحدوده ده ، او کله هم قومونو ته دغه اطمينان ورکوي او د محبت راجلبولو لپاره يې ستاينې کوي، ډول، ډول القاب ورکوي،

د دوی د قومي او وطني تنظيمونو تائيد او حمايت کوي، او په دغه جاهلي نعرو کې ورسره خپل ځانونه پوره ملاتړي بولي، د قومي تړو او روايتي جرګو احترام يې کوي، د قوميت په لار کې مبارزې ته يې د جهاد نوم ورکوي، او په دغه لار کې قربانيانو ته يې د شهيدانو لقب ورکوي، خواخوږي يې کوي او د تسليت پيغامونه ورته وړاندې کوي، ګويا چې جهاد د قومپالنې د سرلوړۍ لپاره مشروع شوی، د قوم د روايتي جرګو، تړو او نرخونو د پياوړتيا لپاره مشروع شوی، او نور کوم اهداف نه لري، خو داسې نه ده، جهاد خپله شرعي معنا او اهداف لري هغه چې د دې قومي او وطني ډلو نه ورک شوي دي، جهاد هرې تجارتي جګړې ته نه وايې، جهاد د قوميت او وطنيت په لار کې جنګيدلو ته نه وايې، جهاد د وطني کرښو او طاغوتي رژيمونو دفاع ته نه وايې، بلکې جهاد د الله په لار کې د الله د کليمې د سرلوړۍ لپاره خپل مال او توان خرچ کولو ته وايې، همدغه ته په حديث کې جهاد ويل شوي، نبي عليه السلام فرمايې: مَن قاتَل لتكونَ كلمةُ اللهِ هي العليا فهو في سبيلِ اللهِ عز وجل،(صحيح البخاري(، څوک چې د دې لپاره جنګيږي چې د الله تعالی کلېمه (د الله تعالی دين) لوړ شي نو هغه د الله په لاره کې دی.

او علماوو شرعي نصوصو ته په کتو د جهاد معنا داسې کړې: هو بذل الجهد وتفريغ الوسع في قتال أهل الكفر والعناد لتكون كلمة الله هي العليا وكلمة الذين كفروا السفلى،

د کفارو او عنادګرو په جګړه کې خپل وس او توان خرچ کول دې لپاره چې د الله کلېمه او دين، لوړ شي او د کافرانو کلېمه او قانون ښکته شي،

شیخ الاسلام ابن تیمه رحمه الله دغه معنا ته په اشاره وايې: الجهاد حقيقته الإجتهاد في حصول ما يحبه الله من الإيمان والعمل الصالح وفي دفع ما يبغضه الله من الكفر والفسوق والعصيان،[ الفتاوى الكبرى لابن تيمية ٥ / ١٨٧]

جهاد په حقیقت کې د هغه څه د تر لاسه کولو هڅې ته وايې چې الله تعالی يې خوښوي چې ايمان او نیک عمل دی او د هغه څه د دفعه کولو هڅه کول چې د الله تعالی بدي شي چې کفر، ګناه او نافرماني ده،
ابن الهمام د جهاد معنا ته په اشاره وايې: إخلاء العالم من الفساد [فتح القدير لابن همام ٥/ ٤٣٤]، نړۍ له فساد څخه پاکول. دا تعریف مونږ دې لپاره کوو چې دې ډلو ته د جهاد حقیقت معلوم شي ځکه دوی نه د جهاد اصلي حقیقت ورک شوی دی، نو اوس دغه تعریف ته په کتو مونږ د تحریک طالبان او د نورو قومي او وطني خوځښتونو نه تپوس کوو: آیا ستاسې دغه مبارزه د الله تعالی د کلیمې او قانون د سر لوړۍ لپاره ده که د یو قوم یا تنظیم د سر لوړۍ لپاره؟ ایا ستاسو دغه روایتي جرګه د ایمان او عمل صالح په لار کې ده چې تائید يې وشي؟ ایا ستاسو دغه جرګه د نړۍ څخه د کفر، فسق او فساد د مخنیوي لپاره ده؟ او که نا د قومیت او وطنیت طاغوت راژوندي کولو لپاره، په پښتنو کې د اسلام او شرعي جهاد په ځای د قومیت روحیه راژوندۍ کولو لپاره، د ولاء براء عقیدې له منځه وړلو لپاره، د الله د کتاب او سنت په ځای په پښتو روایتونو باندې د خلکو راجمعه کولو لپاره؟!! ځواب يې له هیچا پټ نه دی، خو دا چې وطني او قومي خوځښتونه د یو بل سره په ډیرې مقاصدو کې متحد دي لکه  د شریعت د اساسي احکامو په نه عملي کې متحد دي، د اسلامي خلافت ضد مبارزه کې متحد دي، طواغیتو سره په

محبت او دوستانه کې متحد دي، د ملګرو ملتونو صليبي اتحاد او د هغوی د لاس پوڅو مرتدو حاکمانو ته د تحکيم او له هغوی څخه د عدل په تقاضا کې متحد دي، د نړيوالو طواغيتو او مرتدو حاکمانو په خلاف سپيڅلي جهاد ته د ترهګرۍ په نوم کارولو کې متحد دي او داسې نور، نو ځکه خو د يو بل تائيد کوي، د يو بل کړنو ته مشروعيت ورکوي، حمايت يې کوي او د سپيڅلي جهاد سره يې پرتله کوي، هر جنګ جهاد نه دی ، داسې نه ده چې د يو ظالم په خلاف هم مبارزه کوي ، د الله اکبر شعارونه هم پورته کوې خو عقيده دې برابره نه وي ، اهداف دې د الله عزوجل د کليمې د لوړاوي په ځاې د خپل قوم د شعار او نوم لوړول هدف وي ، په مختلفو تنظيمونو او ډلو ټپلو کې په مختلفو شعارونو غوليدليو ځوانانو ته وايو ، د جهاد مقاصد ، تګلاره او اهداف ډير کره او روښانه دي ، خو جهاد داسې نه دی بلکې جهاد د خپلې ذکر شوې شرعي معنا تر څنګ خپل مهم اهداف هم لري چې د ځينو يادونه دلته کوو:

اول هدف: د الله په زمکه د دين قيام او د الله رب العالمين خالصه بندګي کيدل:

دويم هدف: د الله د زمکې نه د شرک ختمول چې تر ټولو لوي ظلم او لوي فساد دی . دغه دواړه اهداف په دې ايت کې ذکر دي الله تعالی فرمايي: وَقٰتِلُوهُمْ حَتّٰى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ ۖ فَإِنِ انتَهَوْا فَلَا عُدْوٰنَ إِلَّا عَلَى الظّٰلِمِينَ [سُورَةُ البَقَرَة : 193]

او تاسي له هغو سره وجنګيږئ تر دې پورې چې فتنه يعني شرک پاتې نشي او دين د الله لپاره شي، بيا که هغوی لاس په سر شول، نو وپوهيږئ چې له ظالمانو پرته د بل چا په ضد لاس غځول روا نه دي.

دريم هدف: خلکو ته د سمې لارې هدايت کيدل او د حق دعوت له لارې ځخه خنډونه ختميدل

څلورم هدف: د پنځو ضرورتونو حفاظت کيدل چې دين، نفس، عزت، عقل او مال دي

پنځم هدف: په زمکه کې د شريعت تمکين ته لاره هواريدل او د ديني او دنيوي فساد مخنيوی کيدل

شپږم هدف: د ولاء براء عقيدې عملي تطبيق کول په دې توګه چې د موحدينو سره محبت او مدد کول او د کافرانو سره بغض او دوښمني کول،

اوم هدف: د کمزوره مومنانو مدد کول، الله عز وجل فرمايې: "وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا." [سورة النساء ۷۵]

اخر څه دليل دی چې تاسي د الله په لار کې د هغه بېوسو نارينه، ښځو او ماشومانو په خاطر نه جنګېږئ چي کمزوري کړای شوي، تر فشار لاندي نيول شويدي او فريادونه کوي چي: «اې زموږ ربه، موږ له دې وطنه چي اوسيدونکي يې ظالمان دي وباسه؛ او له خپل لوري څخه زموږ کوم سرپرست او مرستندوی پيدا کړه.»

او همداسې نور اهداف هم لري نو که دغه اهدافو کې فکر وشي د تحريک طالبان پاکستان په شمول د نورو قومي او وطني خوځښتونو په مبارزه کې يو هم نه ليدل کيږي، له دوی څخه نه د شريعت د قيام طمعه کيږي او نه د شرک د ازالې طمعه ترې کيږي ځکه دوی پخپله د شرکي قوميت او وطنيت داعيان دي، قومي تړو او روايتي جرګو ته ژمن دي او په احترام او حمايت

کې ډزبندي هم کوي، او تر څنګ يې د نورو ډيرى شركي او بدعي عقايدو قائل دي، هغه چې په نورو بيانونو کې ورته مونږ اشاره کړې، د زمکې نه د يو ډول شرک ختمول او د بل ډول شرک اعاده کول جهاد نه دى، د يو طاغوت راج ختول او د بل طاغوت راج راوستل جهاد نه دى مثال يې هماغه دى کوم چې د هند د ويش په مهال رامنځته شو، د هندي طاغوت راج ترې ختم شو خو د پاکستان رياست طاغوت راج وربانديې راغى، اوس هم هماغه تاريخ بيا تکرار ته نژدې شوى که د پاکستان د ځينو طواغيتو راج ختم شي نو پر ځاى به يې د تحريک طالبان پاکستان يا د نورو قومي او وطني خوځښتونو راج راشي، يوازې نومونه به بدل شي نور ټول يو شى دي ځکه دواړو لورو د ډيموکراسۍ اصول منلي دي، د بين الملل شرکي قوانين يې منلي، د مشرکينو قيادت يې منلى دى، د کفارو له خوا د اسلامي نړۍ ويش يې منلى دى، د بين الملل په شرکي قوانينو استواره ډپلوماتيک روابط يې منلي دي، د مرتدينو سره دوستانه اړيکې منلي دي، د روافضو او نورو مشرکانو حاميان دي، د شرکي عبادتخانو او مزارونو حاميان دي، د قومي تړو او روايتي جرګو حاميان دي، او داسې نورو ډيرى اساساتو کې سره شريک دي، ژوندى مثال يې د دوى د رهبرۍ سرلاري افغانستان طالب مليشې دي، د واک په ترلاسه کولو سره يې افغانستان دار الاسلام ونه ګرځيدو بلکې شرک په کې نور هم تقويه شو، د موحدينو سره په کې دوښمني نوره هم سخته شوه، او حربي کفارو ته په کې نوره هم د سيال، تفريح، چکر او فحاشۍ زمينه برابره شوه، د صوفيت شرکي عقيده په کې نوره هم اوج ته ورسيده، د کفر او ارتداد هره دروازه يې وښنکوله، نو که چيري په پاکستان باندې د تحريک طالبان يا د نورو قومي او وطني خوځښتونو واک راشي له دوى څخه به څه د خير طمعه

وشي، او د شريعت د قيام به ترې څه طمعه وشي؟ دوی هم د قطر نه د منځګړيتوب غوښتونکي دي او د هغوی د ډيزائن شوي ډيموکراسۍ په انتظار دي، د دوی غټ شعار د وطن معدنيات او وسائل دي چې عوامو ته وخت په وخت دغه لالچ ورکوي، د شريعت قيام، د شرعي حدوداتو تنفيذ، د شرک ازاله، د کفارو سره دوښمني او داسې نور، د دوی شعار نه دی، بلکې د خپلو افغاني مليشې په څير يې د مرتد فوج اصطلاح هم په غلام فوج سره بدله کړې، او وخت په وخت تصحيح د الفاظو کوي،تحريک طالبان پاکستان د همدې قراردادي امارات په بيعت کې بند دی او اوس چې څو د شريعت په نامه د امارت له لورې په دوحه کې د ډيزاين شوې ديموکراسۍ تطبيقويني ، نو کټ ، مټ همدغه داعيه او همدغه پاليسې او لايحه د ټي ټي پي هم ده ، ځکه نو سره له اوسه د خپلو مشرانو په پلونو روان دي ، اسلام ورته مطرح نه دی ، بلکې چې له هرې لارې ممکنه وي که هرڅومره په دې لاره د اسلامي شريعت احکام تر پښو لاندې کيږي خو په کومه لاره چې دوی واک ته رسيږي دوی په همغه لاره خپل يون جاري ساتي ، نو الغرض د جهاد د دغه دوه اهدافو طمعه خو ترې نشي کيدای،

هر چې دريم هدف دی چې خلکو ته د سمې لارې هدايت کيدل او د حق دعوت له لارې څخه خنډونه ختميدل دي، نو د دې طمعه هم د تحريک طالبان او د نورو وطني او قومي خوځښتونو څخه نشي کيدای، ځکه چې دوی پخپله سمه لاره خطا کړې، د ډيموکراسۍ، شرک، کفر، او د اسلام تر منځ توپير نشي کولی، او نه هم د موالات، معادات او د هغې د اهل تر منځ توپير کولی شي، د تصوف شرکي عقيده په اسلامي عقيدې سره پيژني، د ديوبنديزم ډيری هغه عقائد چې د اسلام سره په ټکر کې دي دوی يې په اسلامي عقائدو

سره پيژني، نو دوی نه به څه د حق طمعه وشي؟ نو پايله يي خود همدا راوځي چې د يو قومپرست غورځنګ سره خواخوږي ښايي ، ملاتړ ترې اعلانوي او ځان ترې ځاروي ، هغه قومپرست تنظيم چې په جمهوريت ايمان لري ، د الله عزوجل د قانون په ځاې په قومي تړو او وضعي قوانينو باور لري ، چې د جهاد ، مجاهد ، هجرت او نورو ارزښتونو او اسلامي مقدساتو قدر ورسره نه شته ، بلکې توهين او تحقير يي کوي ، چې د ګڼو اسلام ماتونکو اعمالو مرتکبين دي خو بيا هم د ټي ټي پي د زړه سرونه دي ځکه چې په قوم کې ورسره شريک دي او غواړي چې په همدې ملاتړ يي خواخوږي او همکاري راجلب کړي خپلې ليکې پرې پياوړې کړي او ځان پرې واک ته ورسوي .

او همداراز د پنځو ضرورتونو د حفاظت خبره چې دوی يې تکراروي او د جهاد مهم هدف دی؛ دا هم په شرعي طريقه نشي کولی ځکه د دې ضرورتونو حفاظت هغه وخت کيږي چې شريعت سل په سله تطبيق شي هغه چې دوی يې هيڅکله نشي تطبيقولی او نه يې هم ورته اراده شته، که په دغه ضرورتونو کې د دين حفاظت ته کتنه وکړو، نو دين په دې سره محفوظ کيږي چې د توحيد خلاف څومره مراکز او عقائد دي ټول ختم شي، يا د جزيه ورکولو په صورت کې ځينو اصلي کفارو ته محدوده ازادي ورکړی شي، روافضو، سيکولرانو، ملت پاله او وطن پاله خوځښتونو او نورو مرتدينو او حربي کفارو او د هغوی مراکزو ته ازادي ورنکړی شي، بلکې مراکز يې ونړول شي او د دعوت مخنيوی يې وشي، اسلام راوړلو ته مجبور شي يا هم ووژل شي، په همدې سره د دين حفاظت کيږي او همدغه يې شرعي لاره ده چې دغه خوځښتونه يې هيڅکله نشي کولی او نه ورته اراده

لري. بلکې د دې په عکس دغه خوځښتونه د دوی حفاظت کوي، د دوی د عقائدو او مراکزو حفاظت کوي، او د توحید د لارویانو سره کلکه دوښمني کوي، په افغانستان کې د طالب ملیشو بیلګه په دې اړه واضحه ده هغه چې تحریک طالبان یې خپل سر لاري او د اسلامي نظام نمونه ګڼي دوی د افغانستان له طالب ملیشو څخه په دین کې ځان کلک نه بولي، نو له دوی څخه د نبوي منهج طمعه نشي کیدلی، د دوی دین د اولې ورځې نه معلوم دی، قومپالنه، وطنپالنه، شرکي صوفیت، د بین الملل شرکي او ډیموکراتیکو اصولو ته ژمنتیا او داسې نور ځیني ګنده عقائد د دوی دین دی، نو دوی نه به د دین د حفاظت څه طمعه وشي؟

که د نفس حفاظت ته یې کتنه وکړو، نو د نفس حفاظت هم دوی په شرعي طریقه نشي کولی ځکه چې د نفس حفاظت په شرعي قصاص او حدودو په تنفیذ سره کیږي هغه چې دوی یې د بین الملل د اصولو او د قومي تړو د لحاظ له وجې نشي کولی، نه د زخم بدله په شرعي طریقه تطبیقولی شي او نه د قتل بدله تطبیقولی شي، او هر چې د عزت د حفاظت خبره ده نو دا هم د شریعت په رڼا کې نشي کولی او نه یې هم کوي ځکه د عزت حفاظت زاني ته په دورو ورکولو او رجم کولو، د لواطت کار په وژلو، د فحاشۍ د اسبابو په ختمولو او د نورو اخلاقي مفاسدو په مخنیوي سره کیږي، چې دا دوی نشي کولی ځکه چې بیا د نړیوالو قوانینو خلاف راځي، لکه څنګه چې د افغانستان طالب ملیشې دې مسئلې ډیر پریشانه کړي او ټولې دعوې ورله دروغجنې کړي دي، نو چې په دې دریو کلونو کې مشرانو یو حد نافذ نه کړ او د امریکا د ډالري کڅوړو زور دی چې په ټول شریعت یې پښې ایښې دي نو د دوی په بیعت کې تړلي تحریکیان به څه دا توره وکړي .

د عقل حفاظت نشي کولی ځکه د عقل حفاظت د نشه يي توکو په مخنيوي سره کيږي خو د دوی خپل افراد په نشه يي توکو روږدي دي، علماء او مشران يې ورته د جواز فتواوي ورکوي او يو حلال تجارت يې ګڼي، سيګرټ، نسوار، افيون او د ځينو حيلو په کارولو سره ځيني نور نشه يي شيان هم مباح ګڼي، نو څنګه به له دوی څخه د عقل د حفاظت طمعه وشي؟

د مال د حفاظت تمه هم له دوی څخه نشي کيدای ځکه مال په هغه صورت کې محفوظ کيږي چې غل نه لاس پرې شي، قطاع طريق ته شرعي سزا ورکړی شي، او د ظالمانو نه په شرعي محاکمو دائرولو سره د مظلومانو لپاره حق واخستل شي خو دا کارونه د بين الملل له منشور او د دوی د وطني او قومي تړو خلاف دي.

او همداسې د جهاد پنځم هدف چې په زمکه کې د شريعت تمکين ته لاره هوارېدل او د ديني او دنيوي فساد مخه نيول دي دا هم د دوی په مبارزه کې نه ليدل کيږي ځکه چې د دوی د شريعت تمکين مخې ته ډير عوائق او موانع دي، د وطن لحاظ، د قوم لحاظ، د ژبې لحاظ، د نړيوال سازمان لحاظ، د شرکي ډيموکراسۍ د اصولو لحاظ، د خود ساخته مصالحو لحاظ، او داسې نور... د دې لامل دي چې دوی يې له دغه هدف څخه وروسته کړي دي نو ځکه خو تر اوسه د دوی جنګونو او مبارزو کومه مثبته نتيجه ورنکړه کوم چې په کې واک ته ورسيدل نو د مخکې نه په کې هيڅ تغير رانغی،

او هر چې د ولاء براء عقيدې عملي تطبيق دی نو په دې کې خو دوی ډير وروسته پاتې دي يوازې چې په قوم، ژبه او وطن کې ورسره شريک وي نور نو که هر څومره د اسلام نواقض هم ولري څه باک نه کوي دوی يې وطني او قومي ورور ګڼي، حمايت او حفاظت يې خپله وجيبه ګڼي خو د دې په

خلاف چې کوم مسلمان دوی سره په دغه مشترکاتو کې شریک نه وي دوی ورسره موالات نه کوي که د کفارو له خوا ورباندې هر څومره ظلم کیږي، که عزت یې هم لوټیږي، دوی یې په اړه هیڅ نه وایې، دغه ورله داخلي مسئله ګڼي، تاسې دا هرڅه لومړی د ټي ټي پي په عمل کې په علني شکل ګورئ ، دوی په دیموکراسۍ ایمان لرونکي جمهوریت غوښتونکي تنظیمونه خپل ورونه ګڼي په مثال کې به یې د مرتد فضل الرحمان تنظیم راواخلو ، فضل الرحمان چې په ښکاره په جار په دیموکراسۍ په ایمان لرلو اعتراف کوي ، ګوند یې له اسلام پرته د همدغه جمهوري دیموکراتیک نظام د تطبیق لپاره مبارزه کوي خو ټي ټي پي فضل الرحمان خپل استاد ګڼي او په ګوند یې هر برید غندي او ورسره خواخوږي ښايي ، همدا راز اوس یی نو د پښتون ژغورنې د قومپرست جمهوریت پاله غورځنګ څخه یي په ډاګه ملاتړ اعلان کړ ، د دوی د ولاء او براء معیار اسلامي عقیده نه ، بلکې قومیت او وطنیت دی ، څنګه چې پښتون ژغورنې غورځنګ هر هغه څوک چې پښتو وايي پښتون وي د دوی سره په قوم کې شریک وي دوی خپل ورور ګڼي تاسې عملي ګورئ چې ډیری په دلایلو او ثبوتونو مستند او په خپلو اعترافاتو او کړنو ثابت مرتدین ، ملحدین او مشرکین دوی سره په دې ګوند کې دي که هغه په نورو هیوادونو کې دي او که په پاکستان او افغانستان کې دي که د هرې عقیدې ، نظریي او فکر والا وي خو چې پښتون وي نو هغه د پښتون ژغورنې د غورځنګ د غړو ورور دی ، دغسې نو ټي ټي پي والا هم دي چې د پاکستان د مرتد نظام په هره اداره کې وي ، که د پښتون ژغورنې او جمیعت علماء پاکستان په شمول د هر تنظیم او ډلې غړي وي په هر نظر او

هره عقيده چې وي خو چې د ټي ټي پي خيلو سره په قوم او وطن کې شريک وي نو هغه د دوی ورور دی .

او هر چې د مستضعفينو (کمزورو مؤمنانو) د نصرت خبره ده نو د هغې په اړه هم قولي يا عملي اقدام نشي کولی ځکه چې بيا د بين الملل د منشور خلاف راځي، بلکې خپله مبارزه د سائکس وپيکو تر پولو پورې محدوده ګڼي او د هغې نه بيرون هيڅ فکر او تصور نه کوي، نو چې يو خوځښت د شرعي جهاد د اهدافو نه دومره وروسته پاتې وي هغوی ته څنګه مجاهدين وويل شي، مبارزه يې څنګه مشروع وبلل شي، ولې يې حمايت وشي؟!!

د تحريک په کشرانو مونږ غږ کوو!

ستاسو د مشرانو دغه حال دی پرته له قومي او وطني نعرې يې بله کومه نعره نشته، هماغه وطنيت او قوميت چې سيکولرستان يې قائل دي د همدغه قوميت په مبارزه کې وژل شوي سيکولرستان شهيدان ګڼي او ورته د مغفرت دعاوې غواړي تاسې وکتل چې څه وخت مخکې پښتون ژغورنې قوم پرست ، وطن پرست ، سيکولر ګمراه تنظيم د يو غړي په وژلو يي هم خفګان څرګند کړ، دا بيا بيل بحث دی چې هغه چا د کومو موخو پـه خاطر وژلی و ، خو خبره داده چې ټي ټي پي ته اوس د قوميت او وطنيت نـاره هم شرعي اقدار ښکاري ، هغه تنظيم چې د قوميت په بوينـاکه نارو او د وطنيت د ګمراه فکر او هدف په لاس ته راوړو يي اساس ايښودل شوی ، او لګيا دي عملاً يي د همدې ګمراه فکر د خپرواي په لړ کې ستاسې په خبر په لکونو ځوانان بې لارې کړل او په ښکاره د اسلامي مقدساتو توهين کوي ، اسلامي شعاير تحقيروي ، د اسلامي اخوت ، اسلامي نظام او اسلامي امت د يوالي په ځاې يوازې د پښتانه غم اخستي او د بين الملي اصولو په سيوري کې

همدغه کفري معیارونو ته کار کوي نو ټي ټي پي پــه خپله اعلامیه کې د دوی همدا نــارې او بغارې د شرعي اقدارو په نــامه یادوي ، قومي او ملي مفادات بیا اسلامي ګڼي ، تــاسې دغه اعلامیه ولولئ چې څنګه د پښتون ژغورنې ټول شعارونه اسلامي اقدار بولي او قومي مفادات یي اسلامي ګڼي .



محمد خراسانی
ترجمان تحریک طالبان پاکستان
MOHAMMAD KHORASANI SPOKESPERSON OF TEHREEK-E-TALIBAN PAKISTAN

حوالہ 60/17-TTP-MDK_2024

بسم اللہ الرحمن الرحیم

گیلہ من وزیر کے بھیمانہ قتل پر تحریک طالبان پاکستان کا اعلامیہ

ظالم پاکستانی فوج اور سیکیورٹی اداروں کا یہ بہت پرانا وطیرہ رہاہے کہ علماء کرام، قومی مشران، شعراء، صحافی اور مذہبی افراد اور شخصیات جو اسلامی اقدار کی بات کرتے ہیں یا قومی وملی مفادات کے حوالے سے دشمنان دین وملت کو بے نقاب کرتے ہیں، ان کو مختلف حربوں سے دبانے، گرفتار کرنے اور بالآخر قتل کرنے کی کوشش کرتے ہیں. اسطرح کے آزاد اور مظلوموں کے حق میں آواز بلند کرنے والے تہی دست افراد میں سے پشتو زبان کا مشہور نوجوان شاعر گیلہ من وزیر بھی ہے ۔ جس کی مؤثر آواز کو مختلف حربوں سے دبانے کی کوشش کی گئی. موصوف نے ظالم فوج کے ہاتھوں قید و بند کی صعوبتیں برداشت کیں اور بالآخر اسلام آباد کے اندر ان کو چاقوؤں اور چھریوں کے واروں سے دن دھاڑے بری طرح زد وکوب کیا گیا ، جو زخموں کی تاب نہ لاتے ہوئے آج خالق حقیقی سے جاملے ، انا للہ وانا الیہ راجعون ۔

ہم گیلہ من وزیر کے غم والم کی اس گھڑی میں انکے اہلخانہ اور دوست واقارب کے ساتھ شریک ہیں ۔ ہماری ہمدردیاں گیلہ من وزیر کے اہلخانہ اور ہر حریت پسند مظلوم کے ساتھ ہیں ۔ تاہم یہ بات سب پر واضح ہونا چاہئے کہ تحریک طالبان پاکستان اور پی ٹی ایم کے بیانیہ میں واضح فرق ہے ۔

اللہ تعالی مرحوم کی مغفرت فرمائے اور پسماندگان کو صبر جمیل اور نعم البدل عطاء فرمائیں.

05/ محرم الحرام / 1446ھـ ق 11/ جولائی 2024ء

اوهمدا راز يي د همدغه جمهوريت غوښتونکي سيکولر قومپرسته تنظيم ځخه د ملاتړ اعلاميه خپره کړه او بيا يي ورپسې د ډزبندۍ اعلاميه خپره کړه .



محمد خراسانی
ترجمان
تحریک طالبان پاکستان
MOHAMMAD KHORASANI SPOKESPERSON OF TEHREEK-E-TALIBAN PAKISTAN

حوالہ 93/17-TTP-MDK_2024

بسم اللہ الرحمن الرحیم

قومی جرگہ کے قیام کے حوالے سے تحریک طالبان پاکستان
کا اعلان حمایت!

پشتون قوم کی نمائندہ جماعت "پشتون تحفظ مومنٹ" کے عمائدین نے گیارہ اکتوبر کو خیبر پختونخوا کے قلب " خیبر " میں پشتون قومی جرگہ " عدالت " کے قیام کا اعلان کیا ہے ،
تحریک طالبان پاکستان ہر اُس شخص ، تنظیم اور تحریک کی حمایت کرتی جو مظلوم اقوام کے حقوق کے لئے آواز اٹھاتی ہے اور عملی اقدامات کرتی ہے ۔
الحمد للہ پشتون قوم اور بالخصوص قبائلی غیور اقوام نے من حیث القوم ہمیشہ سے اپنی آزاد حیثیت کو مالی و جانی قربانیوں اور جہاد وغزا کے مبارک عمل سے برقرار رکھا ہے۔
آزاد قبائل اور دیگر پشتون ریاستوں نے پاکستانی ریاست کے ساتھ ریاستی وعدوں کے اساس پر الحاق کیا تھا ، مگر بد قسمتی سے گزشتہ ستتر سالوں سے پشتون اقوام کے حقوق ، وسائل اور ذخائر پر ریاستی غنڈوں اور فرنگی سامراج کے خود کاشتہ پودوں نے ناجائز قبضہ جمائے رکھا ہے ، ریاستی اداروں کی ستم ظریفی کا یہ عالم ہے کہ کئی دہائیوں سے دہشتگردی، ظلم وزیادتی ، اپنے آبائی علاقوں سے بے دخلی، جبری گمشدگی، اغوا کاری ، بازاروں کی مسماری ، مساجد ومدارس کی بمباری وویرانی، قومی وسائل پر ناجائز قبضے وغیرہ کے خلاف مظلوم پشتون قوم کو فقط آواز اٹھانا یا اپنے روایتی جرگہ " قومی عدالت" قائم کرنا بھی اس ریاست میں جرم بن چکا ہے ۔ چنانچہ جرگہ کے لئے قائم کردہ خیموں کوجلایاگیا ، اسکی انتظامیہ اور دور دراز سے آئے ہوئے مہمانوں کو زدوکوب کیا گیا۔
اس موقع پر ہم مظلوم اقوام اور بالخصوص پشتون قوم کے ساتھ شانہ بشانہ کھڑے ہیں اور بالخصوص آفریدی اقوام پر ڈھائے جانے والے مظالم کی شدید الفاظ میں مذمت بھی کرتے ہیں۔ اور آفریدی قبائل کو اپنے غیور آباء واجداد کی مہمان نوازی اور تاریخ دہرانے پر داد دیتے ہے۔
اور ملک پر مسلط حکمرانوں سے بھی کہتے ہیں کہ اتنا ظلم ڈھاؤ جتنا برداشت کرنے کی سکت رکھتے ہو، کیونکہ ظلم کا یہ دور ان شاءاللہ جلد ختم ہونے کو ہے۔

02/ ربیع الثانی / 1446ھـ ق 05/ اکتوبر 2024ء

## او دوی بیا ستاسې ددغه احترام ، ېزبندۍ او ملاتړ کوم ځواب درکړ ؟

تحریک ... ستان
مفتی ابو ... م محسود
MUFTI ABU MANSOOR ASIM ... TEHREEK-E-TALIBAN PAKISTAN

تاریخ 04/ ربیع الثانی 1445 ھ ق
بمطابق 07/ اکتوبر 2024 ء

بسم اللہ الرحمن الرحیم

حوالہ 02/17-TTP-SL_2024

**تحریک ... ان پاکستان پشتون قومی جرگہ کے احترام میں خیبر ایجنسی میں پانچ روزہ فائر بندی کا اعلان کرتی ہے**

جیساکہ واضح ہے کہ گزشتہ ستتر سالوں سے فرنگی استعمار کے ہاتھوں بنی غلام فوج کے ہاتھوں غازی اور مجاہد پشتون اقوام مختلف قسم کے مظالم کا شکار ہیں،فرنگی سامراج سے پشتونوں کو آزادی تقسیم ہند کے صلے میں نہیں ملی ہے بلکہ پشتون من حیث القوم ایک غازی اور مجاہد قوم ہے جس نے ہمیشہ اپنی آزادی کو جہاد اور غزا کے مبارک عمل سے برقرار رکھا ہے پشتون اقوام کے مشران نے ریاست پاکستان کے ساتھ ایک تعاہد کی شکل میں الحاق کا فیصلہ کیا تھا لیکن گزشتہ ستتر سالوں میں اس ریاست اور اسکی غلام فوج نے پشتونوں کی سرزمین پر صرف اور صرف پرائی جنگیں مسلط کی ہیں -

پشتونوں کے دین،جان،مال اور عزت پر حملہ کیا ہے انکے قدرتی وسائل پر قبضہ کیا ہوا ہے انکے جلیل القدر علماء کرام اور قومی عمائدین کو نامعلوم افراد کے ہاتھوں شہید کرایا ہے انکے ہزاروں نوجوانوں کو لاپتہ کیا ہے اور انسانی تاریخ کا یہ دردناک اور اندوہناک المیہ جاری وساری ہے انکی مساجد، مدرسے ، مکاتب،بازار اور تجارتی مراکز بمبار کرکے مسمار کئے گئے ہیں - لاکھوں لوگوں کو اپنے آبائی علاقوں سے بے دخل کرکے انکی معدنیات اور جنگلات پر غلام فوج کے جرنیلوں نے قبضہ کیا ہوا ہے جنگوں،قبضوں اور مظالم کا یہ سلسلہ جاری ہے اور کوئی کرن نظر نہیں آتی کہ ڈالر خور فوج یہ ظالمانہ سلسلہ روکے گی -

ہم نے مجبوراً اور دفاعاً اس غلام اور ڈالر خور فوج کے خلاف اسلحہ اٹھایا ہوا ہے،اپنی سرزمین کی آزادی اور خود مختاری اور اپنے قدرتی وسائل پر اختیار اور اپنی مظلوم عوام سے ظلم ہٹانے اور انکو انکے اسلامی، دینی اور جائز حقوق دلانے کیلئے جدو جہد کرنا ہمارا مسلم اخلاقی،شرعی اور انسانی حق ہے،اور جو بھی جس نام سے پشتون اقوام پر ان مظالم کے خلاف اور انکو انکے جائز اور شرعی حقوق دلانے کیلئے جدو جہد کرتے ہیں، ہم انکی حمایت کرتے ہیں اور ہماری ہمدردیاں انکے ساتھ ہیں گیارہ اکتوبر غازی اور مجاہد آفریدی قبائل کی تاریخی سرزمین خیبر پر پشتونوں کا جو روایتی قومی جرگہ یا قومی عدالت منعقد کی جارہی ہے -

ہم اس تاریخی جرگہ اور اجتماع کے احترام میں "نو، دس، گیارہ،بارہ تیرہ-9-10-11-12-13 اکتوبر 2024" کو خیبر قبائلی علاقہ میں دشمن کے خلاف فائر بندی کا اعلان کرتے ہیں - ان تین دنوں میں تحریک طالبان پاکستان کے مجاہدین جرگہ کے احترام کی خاطر دشمن پر حملے نہیں کریں گے البتہ اپنے دفاع کا حق محفوظ رکھتے ہیں اگر دشمن کی طرف سے تجاوز ہو تو مجاہدین کو حق ہے کہ دفاع کریں -

امیر تحری... ... کستان
مفتی ابو من... ... لی محسود
حفظہ ... ... ورعاہ
دستخط

لږ په ګریوان کې سر ښکته کړئ او د خپلو مشرانو په کړنو نظر واچوئ ، ولې ځانونه د بې هدفه جګړې ښکار کوئ، ولې خپلې ځوانۍ د دوی په بې هدفه جګړې کې ضائع کوئ، ستاسې وینه د قومي او وطني جاهلیت د اعاده کولو او هغې ته د ودې ورکولو لپاره توئیږي د شرعي نظام لپاره نه توئیږي، ځکه په شریعت کې قومیت او وطنیت نشته الله تعالی فرمایې: إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ، مومنان سره ورونه دي، خو ملتپالنه او وطنپالنه د اسلامي اخوت ضد ده.

د تحریک طالبانو مشرانو ته وایو ! ای شرمیدلو ! تاسې ثابته کړه چې ستاسې دا تجارتي جګړه د قومیت لپاره ده ، نه د اسلامي نظام د قیام لپاره ، نو په خپلو شعارونو خلک مه دوکه کوئ ، ستاسې په عمل کې ستاسې ارادې او اهداف له هر څه ښه منعکس دي ، خپلې تجارتي او نیابتي جګړې ته د جهاد نوم مه ورکوئ ، تاسې بیا دومره بیغیرته خلک یاست چې هغوی مو جګړه ډالري بولي، جنګیالیو ته مو دهشت ګرد وایي تنظیم ته مو د پاکستاني ریاست کرایه شوی تنظیم وایي ، اهدافو ته مو د قوم تباهي وایي ، 60 ورځو کې مو له خپل خاورې شړل غواړي، خوتاسې بیا هم له دوی حمایت کوئ او ملاتړ یې کوئ ،ستاسې ایمان خو مخکې ختم وه ، هغه تش غیرت مو څه شو ، والله موږ درباندې دلته شرمیږو خو تاسې بیا هم دا خبرې ځان ته نه نیسئ ، لږ غیرت هم ښه وي ، د جهاد او مجاهد نوم مو بدنام کړ .

نو منظورخیلو ته وایو !

ستاسې داعیه ، فکر او مبارزه خو له لومړي سره خطا ده ، نظامونه په چغو ، نارو ، دعاګانو ، دمونو او چوفونو نه ړنګيږي ، بلکې دا کار عملي مبارزه غواړي ، دا په بالمثل ځواب له منځه ځي ، په اسلامي شریعت کې د پوزې په بدل کې پوزه او د سترګې په بدل کې د سترګې او حتی د غاښ په بدل کې د غاښ خبره کوي حتې د سوک او څپېړې بدله او بالمثل ځواب شته ("وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ) خو تاسې د پاکستان د مرتد نظام د دومره سترو وحشتونو ، ظلمونو او قتلونو مقابل کې فقط نارې وهئ او یوازې د عدم تشدد کیسې کوئ ، تاسې څوک یاست ؟

دا حق تاسې ته چا درکړی چې پردې وینې د عدم تشدد په پلمه د پاکستان مرتد ریاست ته وبښئ ، دغه بدله نه خپله اخلئ او نه هم نور پرېږدئ بس همدا یوه ناره مو په خوله ده چې زموږ مبارزه په عدم تشدد بنا ده ؟

له تاسې څخه پوښتنه کوو که ستاسې کور ته غل راشي مال دې هم یوسي ، په ناموسونو دې هم تجاوز وکړي ، د کورنۍ غړي دې د کور منځ کې ووژني ، حیوانات دې په مرمیو وولي ، سپین ږیري پلار دې ستا په مخ کې په مرمیو غلبیل کړي د سپین سرې مور بېعزتي دې وکړي ، نو په داسې حال کې به ستا عکس العمل څه وي ، ته به څه کوې ؟

نصیحت ورته شروع کوې ، عذر او زارۍ ورته کوې ؟ دا ورته وایې چې اې غل ماما ! مړه خیر دی موږ نن سبا ډیر خراب شوي یو ، دومره کسان مو قتل شوي دي، دومره کسان مو ورک دي ، موږ سره کار مه لره او یا غل همداسې په کور کې خوشې کوې، او ځې همسایه ګانو ته وایې چې زما کور ته غل راغلی داسې ظلمونه راسره کوي ، زما مال یې هم وخوړ، زما په تور سرو یې هم تجاوز وکړ ، حتی په حیواناتو یې راته هم رحم ونه کړ، زه

مظلوم یم ، دادی زه ترې راغلم چې تاسې ته ووایم چې زه مظلوم یم چې بیا سبا ما ملامته نه کړئ ، ګوره ما ورته هیڅ نه دي ویلي ملامته غل دی .
او که نه نور څه درسره نه وي او سمدستي چړې ته لاس کوې ، او د غله په خېټه یي ورمنډې ؟
او که  نه خپله غله سره کار لرې او نه هم نور ګاونډیان او خپل خپلوان پرېږدې چې غله ته سزا ورکړي فقط همدا نارې وهې چې پرېږدئ دا غل به خپل کار کوي موږ د عدم تشدد والا یو موږ باید له عدم تشدد څخه کار واخلو؟
اوس د پاکستان د مرتد ریاست پاکستاني ریاستي غله  ستا کورته راغلي، همدا د غله کار او عمل یې درسره شروع کړی دی اوس عقل خو د مقابلې او مبارزې خبره کوي او د حالاتو غوښتنه هم همدا ده چې تاسې د خپل همدې پورته کړي شعار خلاف عمل شروع کړئ ..
او که وایې چې  نه کله چې غل راشي او دومره بې ناموسې وکړي ، نو که اسلحه هم راسره وي نو زه به په تش لاس مبارزه کوم .
نو موږ هم همدا درته وایو چې غل خو به درڅخه زر( طلا)  پیسې اونور مال یوسي ، خو د پاکستان مرتدین درڅخه نن ټول معنویت غلا کوي ، ستا ټوله هر اړخیزه معنوي سرمایه یي غلا کړه ، او ته بې فکره ، بې شعوره او بیعقله لګیا یې د همدې عدم تشدد په نارو د پاکستاني ریاستي مرتد ریاست مخه نه نیسې بلکې ملا یې ورتړې .
نو اوس همدا مسله د عامو مسلمانانو مخ ته ږدو چې دغه مهال د غله سره تشدد پکار دی او که عدم تشدد؟

که ځانونه مسلمانان بولي ، پاکستاني ریاست ته دښمن وايي ، نو اسلام د دښمن سره د دښمنۍ کولو ټول اساسات او تګلارې واضح او په ګوته کړې، لومړی ګام يي اعداد ښودلی ، الله رب العالمين فرمايي :

وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ.

ژباړه:او تاسو د هغوی لپاره هر څومره چې مو وس وي، ځواک او د جګړې اسونه (او نور سامان) تيار کړئ، څو د دې وسايلو په واسطه د الله دښمنان او خپل دښمنان او نور (دښمنان) چې تاسې يې نه پيژنئ خو الله يې پيژني، وويروئ. او تاسې چې هر څه د الله په لاره کې ولګوئ، تاسې ته به يې پوره اجر درکړل شي، او تاسې سره به ظلم ونه شي.

نو دلته الله رب العالمين دا خبره کوي چې دښمن سره د مبارزې لپاره تياری مهم دی ، اول تيار شه اسلحه او قوت باندې ځان پوه کړه او بيا داسې تربيت وکړه چې د الله دښمنان او خپل دښمنانورباندې وډار کړې ، تاسې خو برعکس دښمن سره هسې ساعات تيروئ ، دښمن له تاسې ډاريږي که تاسې له دښمن څخه ډاريږئ ؟ يو طرف دښمن سره د دښمنۍ نارې وهئ خو بل لور ته همدا دښمن مو چې هره ورځ په سر ، سر وهي تاسې يي بيا مقابله د عدم تشدد په تشو نارو کوئ ، دښمن سره  دعدم تشدد لاره اختيارول په کوم ځای کې راغلي ، الله عزوجل خو فرمايي تاسې ورسره تشدد وکړئ ( اشداء على الكفار ).

پخپله خوله دا اقرار کوي او وايي چې دومره قتلونه شوي دي ، ښه دومره قرباني دې ملت ورکړه اخر چی نن پاکستان سقوط درشل کې دی  او تاسې

مړ ښځي په همدې حساس وخت کې راپورته کيږئ د همدې پاکستان د ائين لاندې د پاکستان په اجازه د پښتون مېشتو علاقو  کنټرول غواړئ؟
نو د دې دومره قربانيو نتيجه کې چې بيا هم شريعت رانشي نو څومره نوره قرباني ورکرل شي چې بيا اسلامي نظام قايم شي ؟
بله پوښتنه داده چې که  تاسې ته آزادي  ميلاو شوه نو تاسې سره د دومره قربانيو چې ځان ته يې منسوبوئ  هلته په کوم قانون او آيين باندې فيصلې کوئ؟
ځواب مو واضحه دی چې بيا به هم همدا اوسنی پاکستانی کفري نظام او قانون به حاکم وي، هغه قانون چې مخکې په زور پاکستان په دې علاقو کې نشو عملي کولی، سبا به يې تاسې رزيلان مفته عملي کوئ نو اوس عام خلک دې ووايي چې دوی هم د طالب ملېشو په څېر د امريکا او پاکستان  کم کرايه مزدوران دي که نه دي؟
که تير تاريخ ته ستانه شو، دا چې يو صفا نبوي منهج او تګلاره نه وه او د همداسې خود غرضه مشرانو واک او اختيار و، د الله عزوجل د بندګۍ په ځاې د بنده بندګي وه نو  دې ملت د شوروي په مقابل کې همداسې دوه ميليونه قرباني ورکړه، خو په نتيجه کې بيا يو څه  خنزيران د شريعت په ځای جرګو او مشارکتي نظام باندې فيصلې ته تيار شول او تياره مړۍ يي راواخيستله واپس د بل  دښمن په خوله کې يې ورکړه.
سبا به همدوی بيا پښتنو سره د رياست د حفاظت لپاره جګړه کوي ځکه نو ورته وايي د ۶۰ روپو بل ۵ روپۍ کړه مقابل کې موږ د ترهګرۍ خلاف ودرېږو  نو دادی په څومره ارزانه بيه پاکستاني رياست ته څومره پريمانه فوځ په لاس ورغی.

یو طرف د ازادۍ تشو شعارو باندې خلک دوکه کوي بل طرف وايي ۶۰ روپیو بل نه در کوو( ۵ ) روپۍ درکوو ، چاته يې ورکوې؟

تا خو خلک بیا د همدې ریاست ریس توب او مشرۍ ته اړ کړل چې بیا هم حکومت ته ټکس ورکړي.

نو تاسې په رښتېنې توګه د پاکستاني مرتد ریاست سره په دې وران یاست چې دوی مرتدین دي ، د الله عزوجل د قانون په ځای یې د لارډ میکالي قانون نافذ کړی ، د اسلامي شریعت مخه يې نیولې او د نړۍ د جمله کفارو کرایه خره دي او که نه د خپلو پاکستاني ریاستي ورونو څخه په واک ، چوکې او نورو امتیازاتو مرور یاست ؟

که سوله وي یا جرګه وي نو دا خو د دوه دښمنو فریقینو ترمنځ کیږي ، سوله خو له جګړې وروسته وي ، نو ستاسې جګړه کومه ده ، نو که ته وايي چې زه ورسره سوله کوم نو تا ورسره جګړه کله کړې ، تا تر اوسه کومه توره کړې ده ، تا د خپلو وژل شویو ملګرو په مقابل کې له دوی څخه څومره کسان وژلي دي ؟

که همدا اوس دوی سره پاکستاني ریاست معامله وکړي ، او ورته ووايي چې ځه پشتونستان ستاسې شو او بیا همدا پاکستاني ریاست په بلوچ مسلمانانو باندې جنګ ګرم کړي او یا بل طرف مسلمانانو باندې حمله وکړي، نو که دلته بلوچ او یا نور مسلمانان وايي چې ای پښتنو موږ ته ځای راکړئ چې پاکستاني ریاست باندې حمله وکړو آیا دوی به ځای ورکړي ؟ که نه دلته به بیا د پاکستاني ریاست لومړني دفاع کونکي همدا رزیلان وي ؟

دوی به بیا د پاکستاني ریاست د دفاع سیم خاردار وي او د پاکستاني ریاست څخه به دفاع کوي ، نو دا په حقیقت کې د پاکستاني ریاست سره د دوی د دښمنۍ شدت دی .

یا یې پښتونستان درکړ او پاکستاني ریاست د افغانستان په مسلمانانو باندې ظلم شروع کړ، بلاخره افغانان مطلب د شمال افغانان دا وغواړي چې د پېښور او اټک له لارې پاکستاني ریاست باندې حمله وکړي نو تاسې به لار ورکوئ که نه لومړی به د پاکستاني ریاست نه مخکې تاسې میدان ته راځئ؟ او هغه وخت به د ایران د رافضي نظام او د هند د کافر نظام او همداسې د چین د ملحد نظام لومړی دفاع کونکي به همدا تاسې یاست؟ ډالرې به درته راروانې وي نور به د یو مسلمان غم درسره نه وي که نور مسلمانان هم وغواړي چې په پاکستاني ریاست ،ایران، هند او چین باندې له پښتونستان څخه لشکر کشي وکړي تاسې به لومړی د همدوی مقابل کې تشدد کوئ ،ستاسې عدم تشدد صرف د پاکستاني ریاست مقابل کې دی، نور اوس هم مسلمانانو ته چړې تیرې کوئ ،مجاهد ته دهشت ګرد وایئ او کله ورته د پاکستاني ریاست پیداوار وایئ ،خو چې سبا مو وینې همدې پاکستاني ریاستیانو سره یوځای په یو مجلس کې توی شي، بیا به عامو خلکو ته پته ولګیږي چې رښتیا دوی که سهار دلته د پاکستاني ریاست په مقابل کې تش شعارونه ورکول، خو د بیګا ډوډۍ یې بیا پاکستاني ریاست سره په یو دسترخوان خوړله.

د پاکستاني ریاست په پاسپورټ اوس هم چکرې وهئ، سهار وزیرستان کې او غرمه اسلام اباد کې اوسئ او هلته خپل راپور وړاندې کوئ خو بیا په

داسې حال کې هم مجاهدینو ته خوله ور اچوئ او غلط القاب ورته استعمالوئ او په بدو نومونو يې يادوئ .

همدا اوس هم د مجاهدینو مقابل کې تاسې د آی آیس آی او پاکستاني رياست سترګې او غوږونه یاست ، بار بار مو پاکستاني ریاست ته د مجاهدینو شیطاني کړې ده، که وايي چه نه داسې نه دي شوي نو دا تاسې سره په همدې جرګه کې موجودو ملکانو ته په طلاق قسم ورکړئ چې تاسې په کراتو د پاکستاني رياست ملېشو ته د مجاهدینو کوردینات نه دي ورکړي ، بار ، بار مو مجاهدين نيولي نه دي او پاکستاني رياستي ملېشو ته مو لاس تړلي نه دي سپارلي؟

درنو لوستونکو ! لکه څنګه چې دغه خویه سري د قوميت ګمراه عقيدې ته د اسلامي مبارزې نوم ورکوي دغه راز دغه خود ساخته جرګې هم د شريعت په رنګ کې رنګوي او وايي چې په اسلام کې جرګه شته او نوم يې شورا ده ، خو دا جاهلان د شورا په مفهوم هم نه پوهيږي چې شورى د شرعي امورو د تطبيق لپاره کيږي، لکه چې شريعت کې دا اصل او فيصله شوې خبره ده، چې د ظالم مقابل کې به جهاد کوئ قتال به کوئ اوس محدود کسان شورا د دې لپاره کوي چې د قتال ستراتيژي څه رقم وضعه کړي تر څو دښمن لا زيات  ذليله شي خو جرګه د اسلام مقابل کې يو وطني دستور دی ،چې دلته فيصلې د قوم تاريخ ته که هغه هر شانته تور او باطل تاريخ او دريځ وي حواله کيږي او احترام به ورته کيږي. او بله دا چې تاسې ځانونه پښتانه ګڼئ او د پښتنو په عرفونو او عاداتو ځانونه پوهه بولئ نو په پښتنو کې خو جرګه د دوه متخاصمو لوريو ترمنځ کيږي دواړه لورې موجود وي او په جرګه کې دريمګړی هم موجود وي ، جرګه  کې د دوه مخالفو لوريو  تر منځ  دريم

ګړی کس فیصله کوي او د دواړو خواو څخه  پوره صلاحیت او د فیصلې واک اخلي او بیا پرېکړه کوي نو اوس له دوی پوښتنه  کوو  چې دا یو طرفه جرگه مو په کوم قانون او معیار فیصلې او پرېکړې کوي؟

یا خو تیار درته جانب مقابل (پاکستاني ریاست ) خپل درخواستونه لیکلي وو او تاسې صرف لکه د طوطیانو په شان زمزمه کړل، که نه دا به کوم عقل درسره ومني چې یو طرف خپله مدعي وي بیا جرګه کې هم یواځې د یو طرف خلک ناست وي  او فیصله هم دوی وکړي نو ایا جانب مقابل به  دا پرېکړې ومني ؟

او آیا د یو طرفه جرگې پریکړې ته موږ پریکړه ویلی شو ؟
 فیصله او پرېکړه خو هغه وخت کېږي چې دواړه جهتونه اول د جرگې مشروعیت ته او فیصلو ته تعهد وکړي چې هو موږ  د جرگې هر فېصله منو، دلته خو یو طرف خلک راغلي او خپل مطالبات یې د خلکو دوکه کولو لپاره د جرگې په پرېکړو نومولي دي او خلاص.

اوس دوی ته وایو چې جرګه مو پاکستاني ریاست ځکه نه مني چې هغوی وایي په دې جرګه کې زموږ خبرې ندي اوریدل شوي ، ځکه  بیا تکراروو دوه مخالفین دي هر یو ځانته درخواستونه لري یو د بل درخواست په کامله معنی نه مني نو دلته دریم ګړی راځي د دواړو درخواستونه اوري او بیا تر منځ  فیصله کوي بیا هغه ته د جرگې پرېکړه وایي ، نو نه پوهیږو دوی په دې کار سره په ځان رشخند وهي او که نورو خلکو ته د پسونو د رمو ګمان کوي ؟

له دوی پوښتو یو طرفه جرګه خو مو وکړه نو اوس د جرګې د پریکړو د عدم قبولیت حال کې تاسې سره د فشار اپشن څه شی دی تشدد خو تاسې هسې هم نه کوئ نو اوس ستاسې د فشار آپشن کوم یو دی ؟

او آیا عقلاً او د همدې وطني جرګو په عرف او دستور کې ستاسې د جرګې پریکړو ته دا یو طرفه درخواستونه او مطالبات وایي که نه دا د جرګې فیصلې یادېږي؟

که دا ستاسې مطالبات وي نو بیا خو همدومره غوښتنې پاکستاني ریاست هم لري بلکې له دې زیاتې لري ، نو اوس به دریم ګړی ستاسې او د پاکستاني ریاست د درخواستونو تر منځ جرګه کوي او هغه ته به د جرګې پرېکړه وایي هغه هم که پاکستاني ریاست دیته حاضر شي ،که نه خوشې مسلمانان مه دوکه کوئ د کار وبار کومه بله لاره وګورئ.

منظور ته وایو ! ستا دومره باتې د څه لپاره وي ، خپله اصل او اساس نلرئ تر اوسه ستاسې سرې کرښې معلومې نه دي هسي هوایي او نامعلومه مبارزه مو شروع کړې ده، دا شو ستاسې منطق یو کس چې دومره باټې وهي بیا هغه لکه ابراهیم علیه السلام چې یواځې هم پاتې وي لېکن له مبارزې څخه یې لاس وانخیست استقامت کوي ، تاسې خو په تشو بادولو کې مهارت لرئ دا خبرې به دې کړې وی، چې که ټول قوم یو طرف شي خو زه به د خپلو وژل شویو ملګرو ارمان پوره کوم او پاکستاني ریاست سره به دښمني کوم ، نو بیا به موږ ویلي وی چې څه هغه وطني او قومي غیرت خو یې سم دی ، په دې خبره چې قوم هره فیصله وکړه تاته د منلو ده ، یو خو دې له شریعت څخه چورلټ انکار وکړ او بله دا چې قوم دې د پاکستاني ریاست د دوستۍ فیصله وکړه د هغوی اربکیټوب یې ومانه ، نو

هغه دی تا ورسره هر څه ومنل خپل ملګري هر څه دې هیر کړل ، هسې دې اسمان په کاڼو ویشته ، .

منظور خیلو ته وایو !

چې کله پاکستاني ریاست د دښمن په حیث یادوئ، نو بیا خو الله رب العالمین وايي چې يو مسلمان د دوه کافرو او دښمن مقابل کې کافي دی، څومره چې ایمان هم ضعیف شي نو یو مسلمان د دوه کافرو مقابله کولی شي ، خو دې رزیلانو دا غیور قوم داسې بزدله کړی دی چې سلګونه کسان به وي لس کسه پولیس به وربانديې راشي داسې منډې به ترې وهي لکه رمه يي چې له شپانه ځخه وهي .

جګړه او مبارزه په روحیه باندې کیږي ، ته چې دې ځوانانو څخه دا د جګړې او قتال روحیه اخلې او هغه د نارینتوب صفت چې د ظلم وخت کې په ظالم حمله وکړي د کفارو په وړاندې مسلحه مبارزه وکړي ، دا فکر ترینه خنثی کوې او چې څومره ووژل شي بیا هم لکه د قربانۍ پسونه دوی دې ځان نه خوځوي او سره د دې بیا هم د پاکستاني ریاست مقابل کې د عدم تشدد نارې وهې ، نو تاسې چې د پاکستاني ریاست ملیشه نه یاستئ ، بیا به په دنیا کې بله ملیشه نه وي.

عجیبه خو لا دا ده چې بیا مجاهدینو ( د خلافت زمریانو) ته دا د آی آیس آی پیدا وار وايي، لاحول والله قوة الا بالله موږ ورته وایو د پاکستاني ریاست مرتدین ووژنه ،د سوک ځواب په سوک ورکړه مبارزه وکړه موږ هم عملي جګړه ورسره شروع کړې ده، تا هم تشویقوو بل هم تشویقوو چې علني ټوپک راواخله او جګړه شروع کړه، قتل وکړه د پاکستان مرتد نظام پولیس څه چې اشپز باندې يي هم رحم مه کوه ، خو ته راجیګیږې او وايې چې نه

پاکستانی ریاست چې هر ظلم کوي خیر باید عدم تشدد څخه باید کار واخلو اوس هر عاقل دې ووایي چې څوک د پاکستاني ریاست دښمنان او څوک یې دوستان دي ؟

موږ د پاکستاني مرتد نظام کسان وژنو مرګ یې غواړو او ته یي نه خپله وژنې نه موږ پریږدې او کور په کور هم ګرځې وایي چې عدم تشدد پکار دی او د پاکستاني ریاست مقابل کې نظامي کار په کار نه دی نو اوس رښتیا ووایه شرم درځي که نه درځي؟

که ستا ځواب دا وي چې جګړه خو بیا که شروع کړم همدلته پښتون قوم تباه کیږي نو موږ بیا درته وایو چې دا کوم کار تا شروع کړی دی، سل کاله هم نتیجه نه ورکوي او پښتون نور هم ذلیله کوې ، رعب یې ختموې دبدبه یې تباه کوې، تاریخ کې دوی بزدله معرفي کوې ، دا کار مه کوه بلکې راشه جګړه د پاکستاني ریاست انګړ ته انتقال کړه ، که ستا خبره دا وي چې پښتونستان کې پاکستاني ریاست جګړه شروع کړې ده، نو مبارزه بالمثل وکړه کنه "وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۖ راشه ته جګړه د پاکستاني ریاستي ریاست په دفترونو ، تربیت سنټرونو ، او د دوی د رهبرۍ مرکزونو ته انتقال کړه ، لس او پنځه نفري ګروپونه جوړ کړه ،ټول مسلح کړه ماینونه ورته تیار کړه بس ۵۰۰ ځوانان ورداخل کړه نو ته ګوره چې یو میاشت کې پاکستاني ریاست بغارې وهي که نه ، داسې به دښمن مجبوره شي خپل فوځ به هلته انتقال کړي هر څه چې کیږي استقامت هلته وکړه او میدان مه خوشې کوه، که بمبار کیږي هم د پنجاب اړوند ځایونه به درباندې بمباروي او خرابوي او که تا سرک ، پل او پلچک هدف کول هم نو پاکستانی ریاست به متضرره کیږي، نو حد اقل لږ خو به په دښمن باندې فشار راشي او که دا

کار وکړې او ادامه ورکړي نو کال کې به درته پاکستانی ریاست په کونډو شي ،خو نه ، ته دا کار نه کوې بیا هم د عدم تشدد نارې وهې ، نو عام ځوانانو ته وایو چې بس کړئ دومره کمعقل مه اوسئ د پاکستاني ریاست په پلان ، پروژه او دسیسه د پاکستاني ریاست مقابله کوئ عجیبه نه ده ؟

په جرګو باندې نه شل کېږي ، چې هله جرګه شروع شوه ستړي مه شئ غرمه شوه ډوډۍ وخت دی ، شپه مو په خیر سهار مو نیکمرغه، بیا غرمه شوه بیګاه شو سهار مو نیکمرغه شعارونه شروع شول نه پرېږدو ، هاې هو... حمله کوو ، زنده باد ، مرده باد .. جرګه ختمه شوه خیر اوسئ چې جرګې ته راغلئ مننه په مخه موښه ..

ستاسې د جرګې ټوله ثمره او سرګرمي همدا وه ، ماښام ټول مړه ځټونه ستانه شوئ ، نو چې ستاسې دا حال وي پاکستاني ریاست ته والله که پورته هم وګورئ.

فرعون هم ویل ما پرېږدئ موسی ووژنم (قال فرعون ذروني أقتل موسى )ما خوشې کړئ چې موسی ووژنم سوال دا دی چې فرعون چا کلک نیولی وه، چې ویل یې ما خوشې کړئ؟ اوس دوی ته وایو چې وکړئ حمله وکړئ، تاسې چا نیولي یاستئ ، نو تاسې خو هر یو کورته روان یاست ، مشران مو د عدم تشدد نارې وهي چا کلک نیولي یاست خو منډه کړئ حمله وکړئ.

پښتنو کې یو رواج دی وایي چې څوک چې دښمني کوي او دښمن وهي علني چغې نه وهي ، هغه متل هم دی چې ( څومره غریږي هغومره نه وریږي ) مطلب دا چې څوک دښمن وهي هغه ستاسې په څیر چغې او بغارې نه وهي او نه وایي چې هغه به وکړو او دغه به وکړو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وايي مفهوم د حدیث دی چې که غواړئ هدف ته ورسیږئ خپل راز پټ کړئ دوی د پاکستاني ریاست غوږ کې نارې وهي چې حمله کوو بیا چې لس چرسي او پوډري پولیس وربانديې رامرش کړي نو بیا له یو بله مخکې کیږي .

نران هغه دي چې په مخفي او چوپه خوله خپل کار مخته یوسي ، دا څومره غافل دښمن دی چې دوی ورته علني بغارې وهي او هغوی صرف تماشې کوي او نور هیڅ یو بل سره کار نلري؟

نو هغه خلک چې ربښتیا غواړي یو چاسره دښمني وکړي نو هغوی دښمن ته احوال ورکوي چې هله دربانديې حمله کوو یا هله دا کوو او هغه کوو که نه پلانونه خپل جیب کې ساتي او مخفي عمل شروع کوي.

چا چې خپل راز او اسرار مخفي کړل هغه هدف ته ورسید نو دوی څه رقم غواړې هدف ته ځانونه ورسوي او څه رقم دښمني پالي چې دښمن ته له لرې چیغې وهي او میدان ته هم ښځې ور مخته کوي؟

دا چې مخکې مو ذکر کړه چې په اسلام کې د جرګو کوم اساس نه شته ، او دوی چې دا کومه جرګه کړې او ورته خوشاله دي دا هم د پښتني دود له مخې جرګه نه ده او نه هم په اسلام کې اساس شته ، خو بیا هم په دې جرګه کې به تاسو چیرې هم اوریدلي نه وي چې دوی دا نعره پورته کړي وي چې موږ د اسلام په رڼا کې خپل حقوق غواړو ؟

دلته خبره ټوله په عرف باندې چلیږي ؟

دوی دې په تاریخ کې یوه جرګه داسې راوښایي چې دوی محصن زاني رجم کړی وي یا یې د شریعت بل حکم تطبیق کړی وي.؟

دا جرګه خو د همدې لپاره وي چې د الهي قوانینو مصدر له خلکو ورک

کړي او جاهلي عرفونه ورته معيار وګرځوي دوی وايي چې تقريباً زموږ څه کم اتيار زره کسان وژل شوي دي ،نو دا د قصاص او ديت خبره آيا په دې جرګه کې وشوه که نه ؟ يا ټول ديت يې همدا شو چې د بجلۍ بيل دې ۵ روپۍ شي؟

اسلام کې جرګې نشته دی دلته دين صفا او معلوم دی ، د هر څه لپاره قانون او حد تعيين شوی دی، د يوې استنجا مسايل چې په مراتبو سره ذکر شوي دي نو د دومره لوی قوم د حقوقو مطالب او مسائل به نه وي ذکر شوي ؟ جرګه په هغه نامعلومو خبرو باندې کېږي چې قانون له مخې ورته حد او سزا نه وي تعين شوي، نو اسلام خو دې هر څه ته مکمل قوانين ټاکلي په دې اړه ټولې تګلارې موجود دي ، د اسلام قوانين که په زور وي او که په رضا دا به عملي کول غواړي او دا قوانين د ميز په سر باندې نه ايښودل کېږي چې جرګې درباندې وشي او په اسلامي قوانينو باندې چنې ووهل شي.

خو دغه راز جرګې چې اوس کيږي ، دوی د اسلام په قوانينو باندې يو معامله راجوړوي لکه قصاص د اسلام فيصله ده، جرګې د همدې په مقابل کې تياريږي، او د اسلام د قانون په ځای بله فيصله کوي ، د ديت مقدار اسلام وضعه کړی دی خو په همدې مسله کې هم جرګې جوړيږي د اسلام احکام تر پښو لاندې کيږي او په ځای پښتني جاهلي عرف او دود دستور عملي کيږي نو که نورې کلېوالې وړې يا سترې جرګې د همدې هدفونو لپاره ترسره کيږي او ملکان او مشران يي په قسم خوړولو او د يو مسلمان حق په ناحقه بل ته په ورکولو مشهور دي نو دغه راز سترې جرګې بيا د اسلام د سترو قوانينو په خلاف پريکړې کوي .

نو د داسې جرګه مارانو باره کې د الهي شریعت دریځ قاطع دی او دا فرمایي چې :**"وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا"**

ژباړه: هیڅ مؤمن سړي او مؤمنې ښځې ته دا حق نشته چې کله الله او د هغه رسول یو امر فیصله کړې، نو هغوی په خپل کار کې اختیار ولري. او هر څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي، په رښتیا سره په ښکاره ګمراهۍ کې دی.

عادل نظام او عادله فیصلې دا داسلام دي ، جرګو د تاریخ په ټولو ادارو کې د یو چا حق بل چاته ورکړی دی ، دلته قبیلوي اړیکې خورا مهمې دي بس همیش د هغه چا حق هغه کس ته ورکړل شوی دی ، چې قبیلوي نفوذ یې زیاد او زورور کس وي نو د جرګو په فیصلو کې له سر او اساس نه عدل نشته دی .

په جرګو کې همیش د هغه خلکو خبرې منل کېږي چې هغوی یو زور او بازو لري د فقیر او محتاج کس غږ هم نه اوریدل شوی او نه یې چا د حققوقو لپاره یو قدم ایښی دی که ځینې وخت د استفادې لپاره ترینه کار اخیستل شوی خو وروسته بیا همدې جرګه مارانو لخوا رټل کېږي او شاته غورځیږي. بل طرف د جرګې جرګه ماران هغه رزیلان مشران دي چې نه په خپل ناموس صرفه کوي او نه ورته نور ارزښتونه مهم دي ، نور قران خوړل خو ورته د جرګې دستور ښکاري په اسلامي احکامو او فیصلو خو بیخي اګاه نه دي او نه یې اسلام سره څه کار شته ، ځکه دا مستقل قانون او دستور دی چې د خلکو سرنوشت باندې خبرې کوي.

بله خبره دا ده، چې جرګو همیش فیصلې کړي دي ، خوکه دا سوال وشي چې د کومې جرګې فیصلې بیا سل په سله عملي شوي دي ،نو په دې اړه به تاریخ کې یو مثال هم څوک پیش نکړي ، ځکه دلته د ځواب ویلو مرجع نامعلومه ده، څوک له ګریوانه رانیسي چې اشنا تا پرون جرګه کې راته داسې باتې وهلې نو اوس د عمل میدان ته راشه؟ که نه نو بس د جرګې په نورو غړو باندې به خبره وراچوې ، په تاریخ کې چرته د مسائلو په تعقیبولو او د پریکړو په عملي کولو کې د یوې جرګې رول هم نه دی ثابت .

او بیا نو که د دوی دغه جرګه وا ارزوو نو په دې جرګه کې هغه رذیل مشران او ملکان په رأس کې وو، چې تول عمر یې د پاکستاني ریاست به جاسوسۍ کې تیر شو، حتی ډیرې یې د پاکستاني مرتد ریاست په خدمت او دلالۍ کې سپینې کړې، نو له دوی دا تمه چې د مظلوم حق واخلي او د عدل فیصله وکړي محال ده.

بله مهمه خبره دا ده چې دې جرګي کې مشخص جوابګو څوک دی، هره ماده کې ادرس دا معرفي کیږي چې جرګه به دا کوي او هغه کوي وایي که پاکستاني ریاست کې یو پښتون محصل سره چا ظلم وکړ، نو ټوله جګړه به ورته ځان رسوي خه نو دا به عقل ومني چې دومره جرګه به هره ورځ راتولیږي او هره ورځ به د پاکستاني ریاست څخه د یو کس حق په لاهور کې واخلي او بله ورځ به منډه کوي وزیرستان کې به د بل کس حق غواړي؟ دا خپله مجهول او د دوکه ورکولو لپاره یو ادرس دی ، تر اوسه یې خلک ددې جرګې په نوم خطا کول چې جرګه وکړو نو ټول مسائل به حل شي اوس نو تاسې صبر وکړئ، بس که هر څه کیدل یو ځل به دوی جرګه راغواړي

بیا به دوي خبره کوي، اوس به نو  هر یو وایي چې زما کار ندی بس جرګه راوغواړئ، دا نو اوس یو بیل رشخند شو.

د ظالم نه د مظلوم حق په زور اخیستل کیږي، نه په غونډو او مظاهرو تاریخ کې دې ځوک مشت نمونه خروار د یوې جرګې پریکړه راوړي چې هغوی په کامله معنی د یو مظلوم حق اخیستی وي؟

خو جرګې همیش د ظالم له ډار او د مال د لالچ له امله  مظلوم ته په تشو دوه روپیو قناعت ورکړی دی ،هغه  الهي او شرعي حقوق یې ترینه په مفته لیلام کړي دي ، ځکه جرګه هغه زهر خواره  او قران خواره راټولوي چې صرف په پیسو قسمونه کوي ، د دغه راز جرګه مارو په اړه دا مشهوره ده چې  وایي که په جرګه کې شل قسمه درته وخورم ځو روپۍ راکوې  !

نو د داسې خلکو جرګه به څه جرګه وي چې خپله سهار او بیګاه د پاکستاني ریاست پارلمان اونورو کفري نهادونو کې حاضري امضا کوي، او تاسره به د پاکستاني ریاست په ضد ودریږي ؟ دا محال ده .

یو طرف د جرګې نارې وهي ،بل طرف هغه مهمو پرېکړو کې چې د پاکستاني ریاست خلاف وي بیا حواله په همدې پاکستاني آیین ورکوي، او وایي  چې آیین کې فلاني ماده کې داسې راغلي او بستانۍ ماده داسې وایي ، نو صاحبه که هغه عملي کړئ!

خه نو چې د جرګې حواله په آیین شوه نو بیا د جرګې د فیصلې اهمیت څه شو خو صفا ووایئ چې موږ د پاکستان د کفري لارډمیکالي آیین تحفظ غواړو او دولت په دې کې ملامته وه ، چې هغه یې سم ندی عملي کړی، باید سم عملي شي ترڅو ددې ائین په بشپړ عملي کولو زموږ د ټولو اخلاص انګریزانو ته صفا معلوم او ښکاره شي.

بیا وایي جرګه فیصله کوي چې بند شناختې کارت کولاو شي، والله چې موږ په دومره سسته خبره د دوی دلته شرمیږو، دا دومره بغارې ټولې د همدې لپاره وې چې بند شناختې کاردونه درته کولاو کړي، اول خو یي والله که درته په داسې تشو خبرو باندې کولاو کړي ،بل تاسره چې دومره د شناختي کارت غم دی نو بیا په دومره وړه خوله ولې دومره لوې خبرې کوې؟

خلکو پکې سرونه ورکړل غم یې نشته دی تا د یو شناخت کارت کولاو ولو لپاره د جرګې میدان ته د ښځو په شمول زرګونه مظلومان د عذر لپاره راټول کړل.

بله خبره دا ده چې صرف شناختي کارد لپاره مو دومره بغارې وهلې؟ دا خو د پاکستان په آیین کې نورې قانوني لارې هم لري، لاړ شه هلته عریضه وکړه دوه ورځو کې درته کولاوه وي نو جرګې ته مو ګوره مخکنیو لاپو او باټو ته مو ګوره ، او بیا مو داسې ذلیله غوښتنو ته ګوره .

خو اصل خبره دا ده چې دوی خپله د پاکستاني ریاست د پلان او دسیسې یوه برخه ده ، هغه وړې وړې غوښتنې به ورته پاکستاني ریاست عملي کړي ټول قوم ته به دا ځوان اتل معرفي کړي چې هو دا د جرګې کمال دی نو په همدې دوه درې وړو غوښتنو باندې به نور هر څه هیر شي .

د عقل او سیاست تقاضاوې دا دي چې که ربښتیا دوی له سیاسي لحاظه په ربښتیا مستقل وی او د پریکړو واک یې خپل وی نو صرف دوه او یا درې وړاندیزونه به یې کړي وی او بس ټول قوم به یې طلب کړی وی دا خبره به یې ورته کړې وی، چې دوه یا درې اساسي هغه موارد په نښه کړئ چې بیا دا نور ټول مشکلات ورسره حل شي فرضاً صرف په همدې یوه خبره کې د ټولو مادو حل پروت دی چې ویلي یي وی چې موږ د ټولې پښتونخوا عام

او تام صلاحیت غواړو که وړه خبره وي او که لویه خبره وي موږ یې واکدار یو ، بس په همدې یوه خبره به جرګې فیصله کړې وه او بس په همدې یوې خبره کې هم دفوځ وتل راتلل هم د بجلۍ مفت کیدل وو، هر څه بیا همدې یوې مادې لاندې راتلل اوس خو چې پاکستاني ریاست ورته نیم ومني او له نیمو نورو څخه انکار وکړي دوی به څه وکړي؟ ځکه کله چې جرګه کیږي نو هغه د مخالفینو تر منځ کیږي ، دلته له دوی دا پوښتنه لازمي ده چې تاسې پاکستاني ریاست سره موافق یاست که مخالف ؟
که موافق یاست نو بیا د جرګې څه فایده خو لکه سیاسي تنظیمونه ولاړ شئ او د پارلمان له لارې مو خبره مطرح کړئ، که مخالف یاست نو د پاکستاني ریاست نمایندګان دعوت کړه ،د پښتنو او د پاکستاني ریاست تر منځ جرګه وکړه چې بیا اخر کې پریکړه لیک نشر شي نو اوس په دا یو طرفه جرګه مو د خلکو په سترګو کې ولې مالګې شیندئ.
اوس دوی په خپلو منځونو کې راټول شوي ، دې یوه طرفه ناستې ته جرګه وایي اوس به دا یو طرفه جرګه ځي ، په همدې مادو باندې به د پاکستاني ریاستي ریاست سره د پټو دروازو شاته په جي ، جي او سر ،سر او نورو ادبي او له احترام څخه په ډکو الفاظو خپلې دا غوښتنې شریکوي.
نو پاکستاني ریاست سره چې هم زور دی او هم ورسره نظام دی، او هم هر کاره دی ، ددې جرګې کومې خبرې به ومنې او کومې نه ؟ ځکه هغه هم درسره بیا بحث کوي اول بحث یې دا دی چې زه نظام چلوم حق لرم معدنونه یوسم، ځکه دوباره مصرف لرم ، په هره لار یې چې مصرفوم دا زما حق دی ، نو دوی به ورته څه ووایي ؟

هو که دا خبره شوی وی، چې موږ د پښتونخوا عام او تام صلاحیت غواړو دلته نه ستا معاش ته او نه کلدارو ته ضرورت لرو، خپلې خاروې خورو خو ستا دال نه منو، نو دلته عقل هم او نقل هم دا خبره تایید کوله چې د پاکستاني ریاست خوله وتړل شي او په دې اړه کوم بحث ونه شي کړای ، اوس خو درته وایي چې د پښتونخوا واک زما لاس کې دی نو مصارف چې کوم باید عواید یې هم لاسته راوړم او فوځ هم دیره کړم نور هم هرڅه چې غواړم کوم یې ، ځکه د پښتونخوا واکدار یم ، چې دا خبرې ټولې ورسره په خپله همدې جرګې کې تائید او ومنلې.

دا هسې د مسلمانانو د دوکه کولو او د پښتانه قوم پاکستاني ریاست ته د لا ذلیله کولو پروژه ده او بس .

د پاکستاني ریاست ښخه د ۶۰ روپیو بیل کمه ول په داسې حال کې غواړې چې ۶۰ ورځو کې به دوی د مجاهدینو مقابله کوي، مطلب یې دادی چې پاکستاني ریاست ته وایي چې ته د ورځې یوه روپۍ بیل راکم کړه ،زه به یوه ورځ د مجاهدینو خلاف مخ ته ولاړ شم ،په ۶۰ ورځو کې مو چې ټول مجاهدین له ساحو وویستل ، نو ۶۰ روپۍ بیل به راته معاف کړې ، ځکه د ورځې یوه روپۍ راکوزېږي، او هغه ساحو کې چې لږ مجاهدین مقاومت کوي او هلته له ۶۰ ورځو زیاد وخت غواړي نو هلته بیا خیر تر څو مو مجاهدین ختم کړي نه وي نو هلته بیا ۵ روپۍ راښخه اخلئ، دا شوه د دوی د جرګې خلاصه او نتیجه چې ۶۰ روپۍ د۶۰ ورځو مقابل کې دوی پشنهاد کړې دي.

د جرګې په اخر کې یې یو ځل بیا ټول پښتون قوم د پاکستاني ریاست نمائنده ګانو ته سلامي کړ ، د پاکستاني ریاست احسان یې د پښتنو په اوږو

بار کړ ، وايي چې دا درې ورځې همدې د پاکستان رياستي نماينده ګانو خدمت کړی نو ځکه ورته بايد سلامي ووهل شي .. او يو بله مهمه خبره داده چې دوی د پښتنو د اقدارو خبره کوي ، د پښتنو د ارزښتنو خبره کوي خو بيا خپله د پښتنو د ارزښتونو جنازې وباسي ، هغه داسې چې د مغولو او صفويانو له دورې څخه راواخله او بيا د احمد شاه ابدالي تر دورې او د انګليس-افغان جګړې (۱۹مه پیړۍ) په در شل کې او ان تر پرونه پښتنو جرګې ته ښځې میدان ته ندي راويستلي ، بل دا سخت بد عرف او عادت دی ، بېخي د چا خبره دښمن ته د ژړا او فرياد او د عذر او زارۍ اخري حد او د بغيرتۍ انتها او د ذلت اخري کنده ده، چې دښمن ته په جرګه کې ښځې ورمخته کړې، جرګه د نارينه و کار دی او سل سرونه که هم لاړ شي ، پروا يي نه لري ، خو ښځې د سړو منځ ته نه راوباسي، تر اوسه تاريخ کې پښتنو په جرګه کې ښځې ندي رامخته کړي ، نو دوی خو هغه مخکې موږ وويل چې د بغيرتۍ پروژه يې روانه کړې ده، هغه د پښتنو عزت يې د پاکستاني رياست په پښو کې وغورځاوه ، مسلمانانو او بيا په ځانګړي توګه پښتانه مسلمانانو چيرې خپل دښمن ته په جرګه کې ښځې نه دې راويستلي او يا يي دښمن ته نه دې ورمخامخ کړي ، اوس دوی ته ګوره بربېتونه هم تاوه وي چې موږ وګټله .

د دې جرګې او د مظاهرو فرق په څه کې وه؟ خوشې درې ورځې يي د خلکو وخت ضايع کړ او په اخره کې يي بېخې ناچيزه او کمزورې اعلاميه ورکړه، نور (خير تو او خير من ) هر څوک په خپل طرف روان شول او خلاص.

خو احتجاج به مو کړی وه حد اقل د پېښور او اسلام باد روډ به مو بند کړی وه، که وايي نه بيا پښتنو ته مالي تاوان رسيده ، نو د کراچی بندر او يا د

اسلام اباد هوايي ميدان به مو بند کړی وه، ترڅو پاکستاني رياست ته خو مو لږه اقتصادي ضربه رسولی وی، اوس مو څه وکړل خو هر احتجاج کې يو پريکړه ليک لوستل کېږي هغه کار تاسې هم وکړ، خو په ډيرې بيغيرتي او بېعزتۍ سره .

پاکستاني رياست ته عجيبه مفت خدمتګاران په لاس ورغلي ، د پښتنو ځوانانو د احساساتو د سړولو ، د دوی د غيرتونو د وژلو او خنثی کولو پروژه يي خه په درز کې روانه کړې ده ، له يوه لورې خلک مجاهدينو سره مواجيه کوي او له جهاد څخه د خلکو نفرت راپيدا کوي او بل لور ورسره فقط د شناختي کارډ د خلاصيدو غم دی ، چې چرته ورته شناختي کارډ بند نکړي، په پاکستاني پاسپورت هرې خوا چکرې وهي ورځ کې لس ځله پاکستاني رياست سره په تليفون خبرې کوي، د هغوی په اجازه قدم اخلي پيسې ورته د هغوی په بانکونو او لارو راځي خو بيا به راځي او د مجاهدينو خلاف به خلکو ته دا ذهنيت ورکوي چې دوی د پاکستاني رياست خلک دي ، عجيب منطق دی مجاهدين د پاکستاني رياست خلک شول ځکه چې خپله هم پاکستاني رياستي کافر وژني او تاته هم دا توصيه کوي چې ټوپک ته لاس کړه قتل وکړه ، وينه تويه کړه خو دا چې سره د دومره سپين سترګۍ بيا هم د پاکستاني رياست خلاف د عدم تشدد بغارې وهئ ، نو تاسې دښمنان او مجاهدين يي دوستان شول ؟

دوی د اسلحې او ټوپک سره د پښتنو ځوانانو نفرت زياتوي او دا فکر ورکوي چې بس هر څه درسره پاکستاني رياست کول ځان به غلی نيسي ، فقط د عدم تشدد بغارې به وهئ ،مطلب دا چې د پاکستاني رياست د دومره وحشتونو د دوی د کفري کړنو او ظلمونو په غبرګون کې طبعي ده چې بايد

پښتانه ځوانان د دوی په مقابل کې اسلحه راپورته کړي ، او دا چانس ورته اوس لله الحمد د اسلامي دولت د مجاهدینو له لورې مهیا دی چې د نورو قومونو د ځوانانو په شمول پښتانه ځوانان تربیه کوي دوی ته شرعي او جسمي روزنه ورکوي او د پاکستان کفري ریاست په شمول يي د نړی د ټولو کفارو او طواغیتو په خلاف يي جګړې ته اماده کوي ، نو پاکستاني ریاست چې دا حالات درک کړل نو په دې حربه يي خپلې هڅې چټکې کړې ، او د پښتنو ځوانانو د مصروف ساتلو ، د دوی په ذهن او فکر کې د جهاد او مجاهد د بدنامولو پروژه يي رامخ ته کړه ، اوس نو همدا د پاکستان مرتد ریاست د اهدافو د پاللو او د ګټو د ساتلو تش په نوم د پښتون ژغورنې غورځنګ همدا ماموریت مخ ته وړي چې څنګه پښتانه قبایلي ځوانان د جهاد په ځای په تشو نارو مصروف وساتي ، څنګه له دوی څخه د امت د یووالي ، د ټول امت د دردونو غم واخلي او دوی د قومپرستۍ په دریځ راټول کړي او بیا يي څنګه له جهاد او مجاهد څخه په فکرونو کې نفرت ورپیچکاري کړي ، اسلامي ارزښتونه وربدنام کړي او د خپل حق غوښتلو او د ظلم په خلاف د راپورته کیدو لار هم ورته همدا عدم تشدد وښايي ، نو دا ټوله کیسه بس همدې ته روانه ده ، له دوی پوښتنه کوو او عام ولس مخاطب کوو چې پاکستاني ریاست دې کروز ولري ، ایټم دې ولري ، ټوپکې او نورې مختلفې اسلحې دې ولري او ټول نظامي اسباب دې ولري ، په دې برخه کې دې نوره ترقي هم وکړي، خو په داسې حال دې پښتانه له ټوپک ، بارودو ، میزایلو ، بمونو او کروزونو څخه نفرت وکړي ؟

هغه دې ایټم لري او موږ دې نیم کیلو تش بارود ونلرو او بېخي دې ورته چیرې زړه هم ښۀ نکړو نو په تش لاس مبارزه کېږي؟

دا څه رقم او څه عجیبه منطق دی، د دوی پاکستانی ریاست دې روزمره په نظامي تکنالوژي کې پرمختګ کوي، شپه او ورځ یې ډرونونه زموږ په سرونو ګرځي ،خو ماته د څو خرڅ شویو منفوره څهرو په مټ دا انګیزه راکوي چې ټوپک ښه نه دی ، اسلحه مه ساتئ ، بارودو سره لوبې مه کوئ ، خپل زلمي له دې شیانو وساتئ .

اولسه ! اوس تاسې ووایي دا منطق مو ولې منلی او بدرګه کړی دی، لږ راویښ شئ ،لږ خپل تاریخ ته ستانه شئ ستاسې د بیغیرته کولو پروژه روانه ده، او تاسې هم ورسره شعوري او غیر شعوري قدم اخلئ ، مه کوئ چې سبا به د یوې مرمۍ ارمان کوئ یو ځل یې که د جګړې مینه او محبت، د ټوپک، انتقام او د نظامي مبارزي انګیزه درڅخه واخیستله نو بیا لکه د هند د مسلمانانو په څېر هم به وژل کیږئ او هم به ذلیله کیږئ او هم به په فقر کې ساتل کیږئ ، نړۍ نن سبا په زور اصلاح کیږي تشو خبرو باندې څوک میدان نه خوشې کوي تر څو چې زور دې ونه ویني.

نن که پاکستانی ریاست ظلم کړی او کوي یي، خو الحمدلله چې خپله هم روغ ندی وتلي که موږ ته یې درد رسولی الحمدلله واپس ورته درد رسیدلی دی ، ښځې یې کونډې شوي دي ، بچیان یې یتیمانان شوي دي کورونه او دفترونه یې ویجاړ شوي دي، د نظامي وسایلو بیخ یې ویستل شوی دی، فریاد او ژړا ته نژدې شوي دي ، وایي دا څه بد حال دی چې  وربانديې روان دی، هر چیرې خبرې او تازه خبر همدا دی چې دومره عسکر او دومره فوځ او دومره د فوځ حمایه کونکي د مرتدو تنظیمونو کسان ووژل شول .

ای قومه او ای غیرتي ولسه!  پام کوئ چې دښمن په نظامي مرچل کې شکست سره مخ شوی دی ، مصارف یې زیات شوي دي ، د عساکرو مورال

یې ختم دی، نور د جګړې توان نه لري، اوس غواړې د مبارزې سنګر بدل کړي او دا د قتال روحیه په قبایلو کې منفوره معرفي کړي او له خلکو د انتقام او قتال جزبه په تشو نارو او تشو اخطارونو بدله کړي نو له تاسې غواړو چې د دښمن په دې جال کې ځان مه نښلوئ رابیداره شئ.

د اسلام په تاریخ کې چېرته هم پرته له توپک او تورې کامیابي نه ده راغلې، د رسول الله صلی الله علیه وسلم کور کې هیڅ هم نه و، خو بیا یې هم په دیوالونو دوه تورې راځوړندې وې، له فارس او روم څخه راواخله تر ما او تا پورې دا دین په قتال سره راغلی دی، هر ځای کې د صحابي قبر همدا ګواهي ورکوي چې دلته د دین اسلام د خپراوي لپاره زما وینه توی شوې ده، نو که زما په لاره روان یاست نو زما د مبارزې تګلاره تعقیب کړئ والله د نظامي مبارزي نتایج ډېر صفا روښانه او ډېر ژر لاسته راځي ،که نه عمرونه به مو همدې ذلت کې تیر شي ، ددې روانو مبارزو او هڅو څخه مو پاکستاني ریاست ته هیڅ ډؤل ضرر او نقصان نه رسیږي او نه هم ستاسې دا هلې ځلې هغوی ته دوه توته ارزښت لري .

اسلام د جهاد او قتال په واسطه خپور شوی دی ،پرته له قتال څخه فتحه نشته ، نو متوجه اوسئ چې دا د دښمن پلان او دسیسه ده، چې تاسې په دې تربیه کوي چې هره غوښتنه لرئ بس د همدې مظاهرو او جلسو له لارې یې وکړئ ، نور ګوره ټوپک ته لاس مه وروړئ ، همدا د دښمن بنیادي خبره او دسیسه ده نو له تاسې غواړو چې د دښمن په پلان او مشوره او اجازه هغوی سره دښمني نه کیږي ، لږ د دښمني په اصولو ځان پوه کړئ او لږ خپل تاریخ ته وګورئ چې مخکې دښمنانو سره په کومو اصولو او په کوم طرز او طریقه باندې دښمني شوې ده.

مونږ دا وايو چې د پاکستاني رياست په مقابل کی به له دې نور لوی کومک چيرې وي چې د هغه خلاف ټوله جګړه ته غلطه ثابته کړې او د هغه مقابل کی د عدم تشدد نارې ووهې؟ والله که له دې نوره قوي همکاري بله وي ، چې دوی يې نن سبا د پاکستان دې پاشل شوي نظام سره کوي ،هغه نظام چې يوې نظامې ډېکې ته ولاړ دی، همدې وخت کې دوی اوږه ورکوي او د نظام بازو جوړېږي او په خلاف يې چې څوک مبارزه کوي هغوی ته غلط القاب او نسبتونه ورکوي نو معلومداره خبره ده، چې په مختلفو ډولونو د پاکستاني رياست حمايه او ساتنه کوي خو افسوس چې ساده خلک يې دوکه کړي دي.

دوی دې موږ ته تاريخ کې مثال راوړي که چيرې ځانونه ورته مسلمانان ښکاري، چې د اسلام د تاريخ په کوم دور کې مسلمانانو د جرګو او احتجاجونو به ذريعه خپل حقوق تر لاسه کړي دي او اسلام يې هم عملي کړی دی؟

که ځان ورته مسلمان نه او هندو ښکاري بيا دې د ګاندي انقلاب مثال کې راوړي خو هغه هم شاوخوا 30کاله مبارزه وکړه (له ۱۹۲۰څخه تر ۱۹۴۷م پورې).

خو همدومره وخت کې تاسې وګورئ چې دوی د مسلمانانو حقوق ورکړل ؟ دې انقلاب مسلمانانو ته څه ګټه ورسوله؟ خو نور هم مسلمانان وځپل شول او تر نن پورې چېرې چې سخت او شاقه کار دی په مظلومو مسلمانانو باندې يي کوي.

نو قوم ته وايو چې ای ولسه! تاسې غواړئ 30 کاله نور هم وځپل شئ او30 کاله نور هم د پاکستاني رياست د حاکميت لاندې تير کړئ او بيا اخره کې

هم د انقلاب نتیجه دا شي چې مسلمانان لکه د هند مسلمانان ذلیله او خوار شي.

هغه خلکو ته چې همیش د اسلامي تاریخ مقابل کې د کفارو له تاریخ څخه دلیل راوړي او د ګاندي پیروان یې له ځانونو څخه جوړ کړي دي نو هغوی ته وایو چې یواځې موږ نه ،حتی ستاسې همدې کافرو بادارانو هم چې کله نظامي مبارزه کړې نتیجه یې ډیر زر لاسته راوړې ده.

لکه :په روسیه کې د بلشویک انقلاب ، کله یي چې وسله وال انقلاب وکړ او شاوخوایو کال کې نتیجه ورکړه چې بلشویکانو قدرت ترلاسه کړ او د شوروي اتحاد بنسټ یې کېښود.

نو فایده په نظامي مبارزه کې ده، صفا صفونه سره معلومېږي او نتیجه هم ډیره ښهٔ او ژر په لاس راځي .

دوی دا خبره کوي چې قبایل پاکستاني ریاست مستعمره کړي دي، خو دیته سوچ نه کوي چې ولې یې دا کار کړی دی، له کومې لارې یې کړی دی ، هر استعمار تر شا یو فکر او انګېزه لري، چې هغه عقېدوي او فکري انګېزه وي، چې سیاست کې ورته د استعمار ریښې وایي، هر استعمار بیا ځانګړې ریښې لري چې له هغې څخه استعمار راپورته، تقویه او همدا شان حمایه کیږي، د استعمار لپاره کار کوي او هدف ته ځان رسوي اوس پاکستاني ریاست چې دلته دا ځای مستعمره کړی دی، دلته د پاکستاني ریاستي قانون څخه یاغي مسلمانان وو، د هغوی او د هغوی د نسلونو د بیغیرته کولو لپاره پاکستاني ریاست خپله توره خیټه په قبایلو باندې اچولې ده ، ته چې استعمار سره مبارزه کوې، نو له بېخه به یې ختموې

په بل تعبير که د عدم تشدد والا څخه پوښتنه وشي ، استعمار ځان سره کوم کفر راوړی وه، او کومه برخه کې کفر ته عقيدوي کار کړی دی؟

دوی په دې ځواب سکوت کوي، ځکه چې دوی خپله د استعمار لپاره مفته لګيا دي او خدمت کوي.

بل پلان د دوی دا دی چی له پښتنو څخه د جګړې ابعاد ورک کړي ،چې خلک صرف دا تصور وکړي چې اسلحه په لاس او دريشي ولا عسکر که وه هغه د دښمن موجوديت دی، که هغه نه وو، نو نور دښمن ببخې نه شته دی ، مطلب د دوی مخالفت پاکستاني رياست سره عقيدوي او فکري نه دی، بلکې ظاهري او د تشو نارو مخالفت دی.

دښمن صرف ټوپک په لاس کې نه لري ، ټوپک په لاس عسکر ته د نظام ساتونکی وايي، نظام چلونکی بل کس دی دا رزيلان د مسلمانانو څخه د دښمن هغه اصلي څهرې پټوي، بس يو لس زره کلدارو معاش خور ورته زهن کې ورکوي ، چې دا دښمن دی او دا دی بهر شي نور امن او امان دی پاکستاني رياست سره دوستي او وروري شروع شوه.

هغه کوم چې سياسي ، ثقافتي او اجتماعي استعمار دی د هغې لپاره دوی خپله ځان په کرايه ورکوي، نوره مزدوري نه غواړي پاکستانی رياست دی ورته فقط د شپيتو روپيو د بجلۍ بيل پنځه روپو ته راښکته کړي بس.

له دوی پوښتو له پاکستاني رياست سره فکري او عقيدوي دښمنۍ سره څنګه کوئ؟ مخکې دلته پاکستاني رياست خپل قانون او آيين د کروزونو په زور ندی عملي کړی ،نو تاسې يې نن مفته څنګه عملي کوئ ؟

دوی فکر کوي چې د دوی په دې نارو او شعارونو به نور خلک هم دوکه شي؟ نه هېڅکله داسې نه ده، ټول خلک د دوی په څېر نه دي!

نو تر څو چې همدا د پاکستاني ریاست سیکولر نصاب وي او همدا پاکستاني اداري مو مرسته کوي او تاسې هم له همدوی کومک غواړئ نو همداسې به مستعمره یاست.

د مسلمانانو د نظام یو صفت دا دی چې دا به نړیوال وي، په کومه محدوده او د خاورې په احاطه کې به راګېر نه وي، د دې نظام له تأسیس څخه پیل تر قیامته به دا نظام اسلامي او عالمي وي، ځکه الله تعالی خپل رسول ته فرمایي: ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ فَآمِنُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴾[الأعراف:158]

ژباړه : اې پیغمبره ووایه : اې انسانانو! زه ستاسې ټولو لوري ته د هغه الله استازی یم چې د آسمانونو او ځمکې د باچاهۍ مالک دی، له هغه پرته بل اله نشته، هماغه ژوند بښي او همغه مرګ ورکوي، نو پر الله او د هغه پر هغه نبي اُمي استازي ایمان راوړئ، چې الله او د هغه ښونې مني او د هغه پیروي غوره کړئ، هیله ده چې تاسې سمه لاره ومومئ.

مرتدو ملحدو ته چې په قومیت رد وکړې وایي انبیاء علیه السلام ولې ویلي چې ای زما قومه! یعنې د قوم کلیمه یې ولې یاده کړې ده اوس له دوی موږ پوښتنه کوو، چې ستاسې پیغمبر رسول الله صلی الله علیه وسلم دی که موسی او عیسی او یا نور پیغمبران؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي مفهوم د حدیث دی که موسی هم راشي نو د هدایت او کامیابۍ لاره نلري ترځو پر ما ایمان رانه وړي مخکې له قیامت نه چې عیسی علیه اسلام راکوزیږي هغه هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم دین او شریعت ته دعوت ورکوي ، خو زموږ ځیني په تذکیره

مسلمانان بیا د مخکنیو انبیاؤ دعوت دلیل نیسي خو دیته نه ګوري چې زموږ شریعت او دین اسلام کې د مخکنیو دینونو قوانین او فیصلې هغه وخت د منلو دي چې  یا هغه فیصلې اسلام تایید کړي وي او یا یي سکوت ورباندې کړی وي خو کومې فیصلې او داستانونه چې اسلام رد کړي دي نو هغه باطل دي منسوخ دي نو اوس د منسوخ شوو ادیانو لپاره رالیږل شویو انبیاوو په اقوالو دلیل نیول هسې شین حماقت دی .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم راتګ سره سم د قوم خبره نوره ختمه شوه ، معیارونه تبدیل او تغییر شول نوره د قوم نعره مردوه او منفوره شوه  دلته د دوستۍ او دښمنۍ یو ثابت معیار وټاکل شو ، چې هغه اسلام دی او بس نورې ډلې او ټپلې نشته دی،  صرف دوه خیمې دي اسلام او کفر ، که هر څوک نن سبا پرته له دې معیار څخه هر معیار اصل او اساس وګرځوي که هغه قوم وي او یا ژبه وي او یا مذهب وي نو دا معیارونه د جاهلیت او د یهودو په قدم باندې تلل دي.

دا د یهودو ستراتیژي او فتنه کونکی سیاست دی ، چې د اسلام مقابل کې د قوم نعره پورته کړي رسول الله صلی الله علیه وسلم دومره اجازه نه ده ورکړې چې څوک ووایي اې انصارو او یا اې مهاجرو بس د ټولو مسلمانانو یوه نعره ده  چې اې مسلمانانو او بس.

هر وخت د مسلمانانو ترمنځ د اختلافاتو ټوله مشري یهودو کړې.

د چا په لاس یي کړې؟ دښمن دا کار د منافقیونو په لاس مخته بیایي، د منافقینو لویه نښه همدا ده چې مخامخ یوه خبره کوي بیا شاته درپسې منفي تبلیغات کوي، یو کس به په ځان پوه هم نه وي خو بیا به هم د یهودو لپاره چاپېره وي، د مسلمانانو ترمنځ به بې باورۍ او بې اتفاقۍ ته کار

کوي، د دوی ترمنځ د اختلاف اور ته به لمن وهي خو خپل کار به اصلاح بولي او ددغه ټولو کارونو فایده او ثمره به د یهودو لاس ته ورځي او مسلمانان چې خپلو منځونو کې ځومره بې اتفاقه وي نو هم هغه هومره به د دښمن د نظامي ګذارونو لاندې هم وي.

الله ﷻ رسول الله ﷺ د یو قوم لپاره نه دی رالیږلی، بلکې د ټولې انسانانو او پیریانو ته یې رالیږلی، بل نبي دنیا ته نه راځي، نو د مسلمانانو نظام به د یوې منطقې پورې محدود نه وي، بلکې د مسلمانانو نظام به نړیوال نظام وي، کومې کرښې چې کفارو کش کړي، دا به له منځه ځي، ټول مسلمانان به په یو نظام او یو رهبر یعنې خلیفه باندې راټولیږي، نو هر مسلمان ته په کار ده چې یو نړیوال فکر ولري، تر یو سیمې یې نظریه محدوده نه وي، د نړۍ په هر ګوټ کې د مسلمان په درد ودردیږي او په خوشحالۍ یې خوشحاله شي او د قوم پرستۍ او ډله بازۍ څخه ځان لرې وساتي یعنې د نشنلیزم فکر او عقیدې څخه ځانونه لرې وساتئ، چې دوی د قومیت په مرض اخته دي، دا یو داسې مرض دی چې د کنسر نه هم سخت مرض دی، د دنیا په ګوټ ګوټ کې مسلمانان دې د کفارو او مرتدینو په زندانونو کې شکنجه کیږي، د مسلمانانو د خویندو بې عزتي دې کیږي، د نړۍ کوم هیواد نه دی چې د هغوی په زندانونو کې نن مسلمانې خویندې د اسارت شپې او ورځې نه تېروي لنډ همدې پاکستاني ریاست کې ځومره خویندې اسیرانې دي د هغوی خلاصون مهم دی که شناختي کارتونو خلاصه ول او د بجلي بیل راټیټول مهم دي؟

مسلمانان باید دې لپاره کار وکړي کومه خبره چې ربعي بن عامر کړې: " الله ﷻ مونږ د دې لپاره رالیږلي یو چې بنده ګان د بنده د بنده ګۍ څخه د

اللهﷻ بنده ګۍ ته را دعوت کړو، دا د یو مسلمان او یو مجاهد تلپاتې وظیفه او مسؤلیت دی چې د اسلام په سیاسي نظام کې په هر ډګر کې باید ته د همدې وظیفې لپاره کار وکړې ترڅو هر طرف او په هر کنج کې خلک د الله بندګۍ ته رادعوت شي که هغه په نرمه ژبه باندې دعوت وي او که په قتال وي.

په اصل کې د دیموکراسۍ مبارزه د اسلام سره په همدې ټکي ده چې دیموکراسي وايي د خلکو رايې ته احترام په کار دی او اسلام وايي چې نه د الله رایه او قانون ته غاړه اېښودل په کار دي، جمهوریت او دیموکراسي بنده ګان اخلي د بنده په بنده ګۍ يې ترړي او اسلامي نظام غواړي خلک د داسې غلامۍ او د بنده د بندګۍ څخه د الله رب العالمین بندګۍ طرف ته سوق کړي که هغه پاکستان کې دي او که افغانستان کې دي او یا د نړۍ په هر ګوټ کې دي، دوی خو اسلام ته شاه کړې ده، ځکه يې دا مسؤلیت او وظیفه خوشې کړې او د څو روپیو د بجلۍ د بیل په مقابل کې د پاکستاني ریاست څوکیداري يي غوره وبلله ، د هغوی په فیصلو باندې راضي شول، هغوی ته په احترام قایل دي، د هغوی نمایندګانو ته به دواړو لاسونو سلامي کوي.

دوی ډیرې بغارې ووهلې چې موږ ازادي غواړو خو د ازادۍ تعریف ته بیا نه ورځي چې دا څه معنی لري که یو ډله ووايي موږ خپل استقلالیت او ازادي غواړو معنی د دې خبرې دا ده، چې هغه وخت تاسې دا ادعا کولای شئ چې موږ ازادي غواړو او یا لرو چې خپلو پرېکړو کې ازاد او مستقل اوسئ، ستاسې په فیصلو او تصمیمونو د چا اثر پروت نه وي له دوی پوښتنه کوو، چې که رښتیا تاسې مستقل یاست؟ او رښتیا تاسې ازادي غواړئ او رښتیا تاسې فیصلو کې مستقل یاست د پاکستاني ریاست هیچ اثر

در باندې نشته دی، کنه خپله تاسې بیچاره ګان بیا خپلې فیصلې هماغه د پاکستاني ریاست زوړ شکېدلي کفري آیین ته وروړئ؟

اوس که بېخي همدا د قبایلوو پښتانه را پاڅیږي او په پاکستاني ریاست کې پر پاکستاني ریاست باندې نظامي یرغل وکړي، همدا نجسان ورته وایي چې نه باید له عدم تشدد څخه کار واخلئ، که هر څه ریاست وکړل، بس د ټوپک خبرې مه کوئ چې ټوپک کې بیا د پاکستاني ریاست لښکر له ماتې سره مخ کېږي، ځکه بار بار پاکستاني ریاست د ټوپک په مقابل کې ماته خوړلې ده، خپل پتلونونه یې په میدان پریښې دي خو بیا همدا رزیل پاکستاني ریاست د شکست په درشل کې د څو خرڅ شویو پښتنو په مټ خپل نظام ساتلی دی، هغه هم د بجلۍ د بیل د څو روپو د تخفیف له کبله.

الله رب العالمین سوره شعراء (۳۵) آیت کې د فرعون عجیب داستان ذکر کوي چې فرعون هم خپل قوم راټول کړی وه، ورته وایي چې ګورئ ای زما قومه! دا موسی او هارون دواړه ساحران دي راغلي تاسې له خپلې زمکې (کور او کلي) څخه وباسي او ستاسې دا ارام او هوسا ژوند درخرابوي، یعنې د موسی او هارون دعوت ته غوږ مه نیسئ بس د خپل وطن غم کوئ.

نن هم همداسې په فرعوني فرهنګ ولاړې غونډې د همدې لپاره کېږي چې د مسلمانانو د دعوت مخه ونیسي او هغوی ته مجاهدین بد معرفي کړي او د قوم کور او کلي غم ورته واچوي.

څومره انبیاء چې راغلي د قوم اصلاح لپاره راغلي دي داسې نه ده چې قوم همداسې پریږدي او هغوی ته دعوت ورنکړي نه ، لومړی کار د ټولو انبیاو همدا وه چې قوم د جاهلیت له تورو تیارو راوباسي او د الله رب العالمین بندګۍ ته یې دعوت کړي مطلب ټول انبیاء راغلي چې خپل قوم توحید او د

الله رب العالمین بندګۍ سره وټرې برعکس هر زمانه کې بیا د انبیاو مخالفینو قوم راپاڅولی او د قوم منافع یې ورته ذکر کړي دي او دا قوم یې بیا د الله رب العالمین له بندګۍ سرغړونې ته اماده کړی دی، نو د قوم لپاره هره نعره او هره غونډه فرق کوي فرعون هم د قوم غونډې راټولولې او د موسی علیه السلام د دعوت مقابل کې یې د قوم کور او کلي منافع مطرحه کولې، ابوجهل هم قوم راټول کړی وه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم مقابل کې ورته د پاڅون امر کولو او اخر ټول قوم پاڅون هم وکړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې مجبوره کړ، چې غار ته پناه یوسي او خپل منطقه خوشې کړي.

ابولهب هم قوم راغوند کړی وه او دا خبره یې کوله چې محمد صلی الله علیه وسلم غواړي ستاسې د پلرونو او اجدادو دین بدل کړي په مکه کې وینه توی کړي ، راپاڅئ او رسول الله صلی الله علیه وسلم په کاڼو وولئ.

نو تاریخ کې همیش باطلو افکارو او مکتبونو خپل قومونه د اسلام د روښانه مسیر په مقابل کې استعمال کړي دي ، نو کله چې ملحدین دا خبره کوي چې انبیاؤ هم د قوم نعاره کړې ده، خو بیا دا ظالمان دا نه ګوري چې انبیاء علیه السلام قوم ته څه خبرې کړي دي او کوم پیغام یې ورته راوړی دی .

نن سبا مجاهدین هم قومونو ته هغه د انبیاؤ علیهم السلام او رسول الله صلی الله علیه وسلم الهي پیغام رسول غواړي خو بیا بل طرف د فرعون ابوجهل او ابولهب پیروانو باربار قوم دوکه کړی دی او د اسلام او مسلمانانو مقابل کې ودرولی دی، او د څو روپیو مقابل کې د قوم ټوله قرباني نیلام کړې ده.

دې نجسانو سره هيچ معيار نشته دی، بس کله د مخالفت چيغې وهي او کله بيا د همدې پاکستاني رياست آيين ته فيصلې وروړي هماغه پاکستانی شناختی کارډ چې د پاکستاني رياست امضا او بيرغ پرې پروت دی، دوی يي خلاصون غواړي .

که دوی سره د قوم غم وی خو قوم به يې اسلام سره تړلی و، قوم به يې په دې پوه کړی و، چې  د اسلام څه تقاضاوې دي هغه باندې ځان پوهه کړئ او هغه عملي کړئ، همدا اوس اطرافو کې دومره جهل دی چې والله که څوک د اسلام او کلېمې په معنی سم پوهيږي ،نور حق او حقوق خو لا څه کوې تعصب خو دوی ته امتياز او لاسته راوړنه ښکاري.

چې کينې بس د قبايلو صفتونه کوي چې دلته فلانی امپراطورۍ شکست خوړلی دی او بيستانی امپراطورۍ ماتې خوړلې ،  خو ډير کمعقل خلک ورسره دا خبرې بدرګه کوي چې ته به وايي دوی ولې دومره لنډ تير شوی تاريخ هير کړی دی، که نه پروژه يي غواړي مخکني تاريخ کې تير شوې کارنامي هم پټې  کړي او نوي نسل ته يي غلطې معرفي کړي .

له دوی پوښتنه  کوو چې انګريز په قبايلو کې د عدم تشدد له لارې شکست وخوړ که نه د سرونو په نذرانه کولو ؟

 په دې درو کې د تورو شرنګار او د اسونو ششنار اوريدل کيده چې انګريزان يي په ماتې مجبور کړل، که نه د عدم تشدد بغارې او نارې راغبرګيدې او انګريزان يي وډارول ؟

دوی چې د احمد شاه او ميرويس خان کارنامې يادوي هغوی په مظاهرو او جرګو او د عدم تشدد لارې دومره ساحې فتحه کړې وي که نه توره يې چلوله؟

خو دوی هیڅ شرم نلري مخکې مو وویل چې دوی سره هیڅ معیار نشته دی چې سړی دوی په خپل هغه ثابت معیار چې دوی بغارې وهي ملامته کړي ، بس هر یو یې ځانته شعار لري .

همدا اوس د دوی مشران په پاکستاني پاسپورت باندې ازادې چکرې وهي خو بلې خوا بیا یو نالوستی (بې سواده) مجاهد باندې چې ژبه یې هم پښتو ده، کلی او کور یي هم هر چاته معلوم دی یعنې د خپل قوم سړی دی هغه باندې چاپې وهي.. کله یې په یو لک ډالري میزایلو د ډرون په وسیله ولي او کله ورپسې په سلګونو پاکستاني ریاستي فوځونه راځي او وژني یي، نو اوس د پاکستاني ریاست غلام څوک شو او دښمن یي څوک دی؟

هغه په هر ډګر کې پاکستاني ریاست سره د دښمنۍ اعلان کړی دی ، او که نه د دوی په څېر په بیغیرته ډؤل د پاکستان په اجازه او د لارډ میکالي قانون په رڼا کې پاکستاني ریاست سره مبارزه کوي ؟

د پاکستان اصلي دښمن څوک دی هغه چې د سوک ځواب به سوک ورکوي او که نه هغه کس چې د پاکستاني ریاست د مرمیو مقابل کې ورته دوه لاسي سلامونه کوي؟

د پاکستان اصلي دښمن څوک دی هغه چې نه یې زور منې نه یې آیین مني او نه یي اصل او بنیاد مني د خپل ورور او قوم او ولس انتقام ترینه په تشو باټو نه ، د بارودو په زور اخلي، که نه تاسې یې دښمنان یاست چې په عذرونو د خپلو بلاک شویو شناختي کارډونو د خلاصیدو درخواستونه ورته کوئ؟

رښتیا تاسې یو طرف وایئ چې باید قبایلو او پښتونخوا کې پاکستانی شناختي کارډ نه وي زموږ نه باید تپوس ونشي چې راکړه شناختي کارډ

راکړه ، نو بیا ولې دومره د بلاک شویو شناختي کارډونو غم اخیستي یاستئ، چې ښځې او نران، ځوانان او سپن ږیري ټول مو عذر او زاریو ته راوړاندې کړل، چې خیر زموږ بلاک شوي شناختي کارډونه راخوشې کړئ ؟

د دوی جرگه موږ ځکه ردوو چې د نورو ضررونو ترڅنګ دوی غواړي د قومیت د مفکورې په ذریعه د مسلمانانو سیاسي وحدت خراب کړي ، د ټولو مسلمانانو خبره یوه ده خو دوی ورکې تفرقه اچونکي دي ، د اسلامي اخوت خبره یوازې په پښتنو پورې محدودوي .

دویمه خبره د تعصب ده، چې دوی نورو ژبو سره تعصب ته لمن وهي بل مسلمان ورته پردی ښکاري خو خپل غلام او ټټو ورته باتور او خپل ښکاري.

دریمه خبره د عدالت موضوع ده، موږ چې عدالت تأمینوو ،د اسلام معیارونو او اصولو په اساس یې عملي کول غواړو خو دوی بیا دا خبره قوم پورې تړي او د قومیت د موضوع په بنا ځانته د عدالت غوښتونکي دي.

څلورمه خبره اجتماعي حقوق دي چې اسلام د هر چا حق ته درناوی کوي که هره ژبه او سمت ولا وي خو قومیت بیا صرف د خپل قوم او ژبې د حق دفاع او غوښتنه کوي چې دا هم په دوی باندې زموږ یو رد دی .

بله خبره زموږ بیا دا ده چې دوی خپله تفرقې ته لمن وهي که دوی سره رښتیا هم د جرگې معیار او ارزښت وي نو صراحتاً به یې خبره کړې وه چې ټوله پښتونخوا کې نور سیاسي تنظیمونه لغوه او منحل شو، بس له نن څخه وروسته چې هر خبره وه د ټولو پښتنو خبره به جرگه مخته بیایي داسې ونشول او نه یې کولای شي نو بیا چې خبره د تنظیمونو شوه هغوی هر یو ځانته تګلاره لري بیا قوم تقسیم او متفرقه شو او بیا خبره یوه نه شوه

پارټیو او ډلو ته همدې نجسې جرګې مشروعیت ورکړ او هر یو باندې یې غږ وکړ چې تاسې داسې یاست او داسې یاست ، اخر کې ورته دوه لاسي سلامي هم ووهله.

زموږ بله دعوا دا ده چې دوی د مسلمان ارزښت د سوال لاندې راوړ اسلام مسلمان ته ارزښت ورکړی دی او دا یې یو باعزته شخص دنیا ته معرفي کړی دی خو برعکس کافر او بې دینه کس یې حیوان سره تشبه کړی دی ،ځکه هغه په قانون او خبره نه پوهیږي ، نو هغه مسلمان سره نه پرتله کیږي خو دا رزیلان د قوم په نوم دا امتیازي مقام د یو مسلمان څخه اخلي او دښمن سره یې مساوي کوي خبره له اسلام څخه قوم ته اړوي چې قومیت په اساس به هر چاته مساوي حقوق ورکول کیږي چې دا د مسلمان په شان کې ګستاخي ده.

د مسلمانانو او د دوی معیارونه او اصول سره بېخي سرچپه دي، اسلام د اخلاقي او دیني اصولو په اساس د همکارۍ تقاضا کوي دوی د قومیت په اساس او اصولو، نو فرق لکه د اسمان نه تر زمکې پورې دی.

قریشو به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ویل چې موږ هم عرب یو ته هم عرب یې ، ولې مخالفت او دښمني کوې، ولې وطن خرابوې خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وایي چې نه تاسې زما دښمنان یاستئ ،خو سلمان چې د فارس دی زما اهل او ورور دی .

بیا چې کله مدینې ته لاړ نو همدا خپل قوم او کلی یې د اقتصادي محاصرې لاندې ونیو، تر څو چې هغوی هم اتم کال د هجرت کې دیته تیار شول چې داسلامي اصولو په رڼا کې ژوند غوره کړي.

اوس دا فیصله شوې خبره ده ، چې ظلم در باندی وشو او یا ووژل شوې د الله رب العالمین د قانون فیصله او اجازه داده چی قتال وکړه

بس خبره ختمه شوه ، نور د جرګو او مجلسونو کار ندی ، بس اقدام پکار دی، بالمثل عمل په کار دی ، خو دوی دا کار نه کوي بلکې شرعي حل لارې په وطني او قومي حل لارو باندې بدلوي او کوشش کوي چې په یو ډول نه یو ډول د اسلامي مفاهیمو سره خپله دښمني مخته یوسي.

د یو حدیث مفهموم دی چی یوې ښځې غلا کړې وه ، خو د لوړ نسب ولا ښځه وه ، نو دوی وویل چې اسامه رضي الله عنه به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په جرګه کې ولیږو چې ددې ښځې لاس که قطع نشي نور که هر څه غواړي ورکوو یي، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې د الله رالیږل شوي دین او فیصلو کې نورې جرګې نه کیږي که زما لور فاطمه هم غلا وکړي نو لاس به یې قطع کیږي .

نو اوس دوی ته وایو چې د ظالم مقابل کې د حل لاره شریعت او اسلام روښانه کړې ده، نو ولې مو په جرګو وخت ضایع کوئ، ولې اقدام نکوئ؟ ته که وایي ماباندې ظلم شوی دی نو اسلام په همداسې حال کې د جګړې مشروعیت درکړی دی نو له چا اجازه غواړې ؟

غیرت که در کې وي نو اقدام وکړه ،د دنیا قانون دا دی چی زورور کمزورو باندې رحم نه کوي، نو د دښمن مخې ته ځان داسې ژړېدونکې او عاجزه ، عاجزه مه کوه دا د یو مسلمان څه چې د یو نارینه صفت هم نه دی ، چې داسې بزدله دښمن ته د داسې وحشتونو باوجود هم مخ ته مړ ښت ګرځي.

اصلاً دلته معیارونه ټول سر چپه دي، که دوی ته ووایو چې تاسې لومړی موږ ته خپل معیار مشخص کړئ ، خپل اصل او اساس مو واضح کړئ ،که

تاسې سره معیار اسلام وي، نو بیا په کومه لار چې روان یاست دا لاره کعبه ته نه ده تللې .

که عقل او منطق سره جنګوئ نو په همدې عقل او منطق مو د دلایلو په رڼا کې ملامتوو چې تاسې خوشې وخت ضایع کوئ، یوه مهمه لاسته راوړنه هم نلرئ بلکې سلګونه نور نواقص او مشکلات رازیږوئ چې ان شاءالله تفصیلي بحث به ورباندې وکړو

عامو مسلمانانو ته د دوی دا باطله مبارزه لږ نور هم یو مثال کې روښانه کوو.

یو کور دی دوه ورنه پکې اوسېږي خو دا کور سر له پایه راونړېږي دیوالونه ، چتونه هر څه یې راچپه شي ، څوک چې په لاره تیریږي نو د هغوی سترګې د دوی په ناموس او مال کې وي ، او کله ، کله پرې خلک حمله هم کوي ، کله یې ترې مال غلا کړی وي او کله یې نوره بېعزتي ور اړولي وي، نو له دې دوه ورونو یې یو راولاړېږي ، کلي په کلي ګرځي په هره لار ، هره کوڅه او هر مجلس کې همدا کېسې کوي چې زموږ د کور دیوالونه نړیدلي ، خلک زموږ له کوره غلا هم کوي ، زموږ تور سرو ته هم په سپکه ګوري ، خلک مو په کور را اوړي او مال هم راڅخه غلا کوي، بس شپه او ورځ په همدې ژړا او فریاد تیروي او ځان مظلوم مظلوم کوي کله د کلي ملک پسې ورځي او ورته وایي چې راټول شئ جرګه وکړو چې زموږ کور خراب شوی څه کول پکار دي او ټول خلک له دې خبر کړو چې موږ سره داسې ظلمونه خلکو شروع کړي دي.

خو دا بل ورور یې نور هیچ نه کوي عاجل اقدام کوي ، لومړی یوه پرده را اخلي د خپل کور له احاطې یې راتاووي، لومړی زنانه و ته یو د پردې ځای

برابروي او د باد او باران څخه د نجات لپاره هم کوشش کوي یوه خیمه ودروي، او بیا د کور په ابادئ پیل کوي، هغه ورور چې تشو نارو ته یې کار ویلی دی هغه راځي دې بل ورور سره جګړه کوي، چې تا ولې پرده اچولې ده، همداسې به دې پریښې وه او ورته وایي چې له کوره ووځه ؟ نو سوال دا دی چې اوس کوم ورور په حقه دی ، کوم ورور عاقل دی او ښۀ کار یي وکړ؟.

هغه چې تش فریادونه کوي ، قوم او ملکانو او جرګو پسی ګرځي که نه ،هغه ورور چې عاجل یي اقدام وکړ؟

نن سبا د امت حال هم همداسې دی ،چې د نظام دیوالونه یې څه ، حتی چت یې هم نشته دی، کنډواله شوی دی ، نو اوس د امت ناموس ته د هرچا سترګې دي، مال او سرمایه یي لوټوي، نو دلته هوښیار هغه کسان دي چې د تشو نارو او جرګو په ځای عملي میدان ته وردانګي او اقدام وکړي .

موږ دې د عدم تشدد والا ته وایو ! چې نن سبا مجاهدینو عملي اقدام کړی دی که تاسې د جهاد په اصولو او اساساتو نه پوهیږئ او ځانونه مسلمانان بولئ او غواړئ چې د اسلامي شریعت د احکامو په سیوري کې له ظالم څخه خپل حقوق واخلئ او مبارزه مو یو رنګ راوړي او د په وینو او قربانیو مو دا ظالم نظام ړنګ او د الله عزوجل عادل نظام حاکم شي ، نو تاسې د مجاهدینو ملاتر ولې نه کوئ؟

په ځاې ددې چې د مجاهدینو ملاتړ وکړئ برعکس د مجاهدینو عملي مبارزه هم نندکوئ؟

نو موږ څکه وایو چې پښتون قوم همدې نجسانو همداسې خوار او ذلیله کړ، هر ځای کې د پاکستاني ریاست د مرتدینو په لاس کې کوتکونه او ټوپکونه

دي او پښتنو ته يي نيولي خو دوی په داسې حال کې هم وايي چې پام تشدد ونه کړئ ، بس هماغه خبره ده، چې وايی که په سر کې دې ميخ هم ټک وهي ته صبر کوه ، درد برداشت کوه ، ګوره چيرې لاس ورنوړې خير تحمل وکړه، ځکه مونږ عدم تشدد غواړو.

د دوی نه کوم اصول شته او نه هم کوم معيار لري، سبا به وګورئ همدوی به د پاکستاني رياست مليشه وي،د يو بل طرف په مسلمانانو باندې به ظلم وي ، خو دوی به دا اجازه چاته نه ورکوي چې د همدوې له لارې په پاکستاني رياست حمله وشي ؟

له دوی يوه بله پوښتنه کوو، چې تاسې خو عدم تشدد خبره کوئ او دا مو شعار دی نو اول تاسې موږ ته د پښتونستان يا د لر او بر پښتنو سيمې معلومې کړئ ،لر طرف دا خبره کوئ چې خوست ،پکتيا ،پکتيکا ،جلال اباد، کنړ او داسې نورې علاقي تر نورستان پورې پښتونستان کې راځي او يا د لوی افغانستان حساب کې راځي نو سوال دا دی چې تاسې دا مقبوضه علاقې د پاکستان نه ازادې کړې ، نو بل طرف د افغانستان واک خو د طالب مليشو په لاس کې دی ،چې په رګ رګ کې د پاکستاني ادارو وينه چليږي، نو دلته ستاسې پلان څه دی؟

اوس که پاکستان د لر طرف علاقې تاسې ته خوشې کړي ، نو د بر طرف سره څه کوئ ، جلا حکومت جوړوئ او که نه طالبي نظام سره يې يو کوئ ، چې داسې خو هغه د فارسي متل دی چې وايي : (دو ۱۵ يک سي است ) نو بيا خو خبره همغه شوه ، مخکې خو ستاسې مشکل مستقيم پاکستاني رياست سره و، نو په داسې صورت کې به علاقې له رياست څخه واخلئ او د رياست غلام ته يي وسپارئ ، نو په دې اړه مو ځواب څه دی ؟

طالب خو درسره اصلاً دا خبره نه مني چې واک او اختيار تاته درکړي او ته خو نو د تشدد نه هم کار نه اخلې نو د حل لاره څه ده ؟

همدا نن درسره پاکستان دا ومني چې دا مقبوضه علاقې درپرېږدي ، نو اوس طالب سره څه کوئ ؟

له دوی څه رقم د نيمو پښتنو حق غواړئ، نو بيا چې هغه وخت د سلاح راخيستو ته اړ کيږئ ، نو بهتره ده چې په خپل فکر کې تجديد نظر وکړئ نو د حل لاره يواځې قتال دی، د جهاد لپاره بهترينې علاقې همدا قبايل دي نو اقدام وکړئ هم د بادار او غلام دواړو سره يي مبارزه شروع کړئ او که داسې ونه کړئ، نو پوه شئ چې ټوله مبارزه مو بې بنياده ده او د کاميابۍ لپاره درسره کوم پلان نشته دی.

که د تاريخ پاڼې واړوئ نو وبه لولئ چې کله ډاکتر نجيب د خلکو د غولونې په پار وويل چې هغه زه وم چې ګورباچوف ته مې وويل نور دې ځواکونه له افغانستانه وباسه موږ د خپل وطن دفاع پخپله کولاې شو .

په دې اړه يو کمونيست په خپلو خاطراتو کې ليکلي چې ما له نجيب څخه وپوښتل چې تا په اواخرو کې ولې شورويانو پسې داسې بد رد پيل کړل .

کمونيستټ زياتوي چې نجيب راته وويل : چې دا هم راته شورويانو ويلې که غواړې د ولسونو ترمنځ خپل محبوبيت او يا ملي هويت تثبيت کړې نو په خوله زموږ تخريب شروع کړه ..

هو! نن همغه چاره دا منظوريان تکراروي، د امريکا او پاکستاني رياست له لورې په ورکول شوې دستور چې په ولسونو کې خپل نفوذ وکړي او خپل محبوبيت زيات کړي حال دا چې ولس ته هر څه د لمر په څير روښانه دي ،

خو بیا هم د کفارو له لورې په ورسپارل شوې میډیا کې په ډېر عجیب انداز د پاکستاني ریاست هجوه بیانوي او غواړي په دې غولونکو ډرامو او کیسو اصلي کیسه له خلکو پټه کړي خو نه توانیږي او ورځ تربلې یي له تور مخه سپینې پردې لویږي .

تاسې باید دې خبرو ته زیر اوسئ چې هر څه په عملي شکل درک کړئ، موږ او تاسې ته د نورو خلکو شعارونه نه، بلکې عمل مهم دی، ډیر کله غلامان د خلکو د غولونې په خاطر د خپل بادار په اجازه د بادار په خلاف خوله چوله کوي او له دې څخه یي هم نور مقاصد او ګټې ترلاسه کول هدف وي، تاسې د ډاکتر نجیب مرتد خبرې د اوسنیو ملحدو کسانو خبرو سره مقایسه کړئ ، چې په عمل کې څه ډول دي او په خوله څه وایي، نو د دوی اصلیت به درته لا زیات روښانه شي.

قال تعالی : كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ ۚ إِن يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبًا [الكهف:5]

ژباړه: ستره خبره ده چې د دوی له خولې څخه راووځی، هغوی محض دروغ وایي.

نو اساسي خبره داده چې کله امریکا په 2011 کې له عراق څخه وتله نو هلته یې د سنیانو همداسې لښکر رامنځته کړ، خبره یې دا وه چې امریکا خو وځي او یا دې ووځي نو موږ به خپل امنیت پخپله نیسو علاقې به موږ سره وي صرف هدف یې همدا وه چې مجاهدین قوت وانخلي او ساحې نورو اربکیانو باندې اشغال کړي نو نن هم د پښتونخوا ته د امریکایانو راتلل او دلته میشت کیدل په همدې اساس باندې دي، چې نور د پاکستان مرتد فوځ له دې علاقو څخه ووځي او دلته د پښتون لښکر په نامه عام اربکیان او

وفاداره ملیشه رامنځته کړي چې هم د مرتد نظام اقتصاد بچت شي او هم پاکستاني ریاست تلفات ونه ویني ، د کفارو چې کوم دستور  او قانون دی دوی به یي یو یو په اخلاص او مینه عملي کوي ،نو نور به باتوران  او اتلان هم همدوی وي، ازادي به هم همدوی اخیستي وي ، او په ښه نومونو به یي تشهیر هم کیږي او په پټه به د طالب ملېشو په څېر د امریکا ماموریت هم مخ ته وړي ؟

مخکې مو ذکر کړل کله چې له عراق څخه امریکایانو وتل پیل کړل نو هلته د طلحې لشکر په نوم قومي ملېشې چې څه پکې د قبایلو مشران ول دا یې رامنځته کړل لکه محلي پولیس او اربکیان نو د شریعت مقابله یې دوی په واسطه کوله میدان یې دوی ته وسپارلو بس همدا لوبه نن دلته قبایلو کې روانه ده، چې د پاکستان حکومت زوال رارسیدلی نور  د سقوط په درشل ولاړ دی خو دلته بیا محلي اربکیان یې د امن د لښکر په نوم رامخته کړي او هسې یي زموږ مردکو ته برابروي .

د دې اربکیانو مخالفت د پاکستاني ریاست سره صرف په قیمتونو باندې دی چې  ۶۰ روپۍ راته ۵ روپۍ کړه نور ستا د نظام په خدمت کې وینه هم تویوم د مجاهدینو مخالفت ته هم ودرېږم.

هغه د وردګیانو خبره :  (  کوران که یې درته ۵ روپۍ  کړي ) خوشې مو د پښتنو او قبایلي سیمو قربانۍ دومره بې اهمیته او بې ارزښته کړې. د دوی او طالبانو داعیه یوه ده، دوی وایي مرتد فوځ دې بهر شي ،صرف عسکر دې دلته نه وي نور که فکر او عقیده او نصاب او هر بد او بلا او د پاکستان قانون او آیین هر څه وي نو موږ یي تابعدار یو ، نور د فوځ خدمت موږ خپله کوو او هیڅاته به اجازه ورنکړو چې بیا له پښتونخوا څخه پاکستاني ریاست

ته ګواښ پېښ کړي او امنیت يې ورخراب کړي ، طالبانو هم د ۲۰۰۶ څخه د امریکایانو لمنه نیولې وه او همدا خبره يې ورته کوله چې صرف ستاسې نظامي کسان له افغانستانه وباسئ ، نور هر قانون او فرمایش مو چې دی ، موږ يې درته په ډېره کمه بیه او ښه په اخلاص سره عملي کوو، نه به خلافت مجاهدینو ته ځای ورکړو او نه بل چا ته ، بس هر خبره مو چې وي موږ يي کوو نور به ستاسې امنیت او د نړۍ د نورو کفارو امنیت څوک له افغانستان څخه درخراب نه کړي .

نو د طالبانو او منظوریانو باداره هماغه امریکا ده، دواړو ته یو پلان او دسیسه ورکړل شوې ده ، د دواړو تقاضاوې او غوښتنې یو ډول دي، صرف د مبارزې شکل يې دومره فرق لري چې طالبان د امریکایانو دې پلان ته د اسلام په نوم کار کوي او منظوریان ورته د دیموکراسۍ او قومیت تر چتر لاندې خدمات وړاندې کوي ، نور زره فرق د دوی په داعیه او فکر کې نشته دی.

نو طالبان که په دې خبره منظوریانو ته اربکیان وایي نو بیا خو طالب غیر مستقیم ځانته هم همدا خبره کوي، او په دې اعتراف کوي او وایي چې زه هم د امریکا اربکی یم .

نو اوس تاسې ووایي د امریکا اربکي توب او حفاظت ښه دی که د پاکستاني ریاست؟

عجیبه نه ده ؟

پښتونخوا کې امریکایانو ته اډې ورکړل شوي . د همدې خیبر په غرونو کې د فوځ سره مشترک تمرینات وکړل ، په دې اړه یو پښتون هم ځان ونه خوځاوه او نه هم په دې نمایشي جرګه کې دا خبره یاده شوه چې موږ د

امریکایانو بیسونه په تور دره او نوره پښتونخوا کې نه غواړو امریکایان دې ووځي، دا خبره یي ونکړه ، خو بر عکس یي د امریکایانو قاتلینو ( خلافت مجاهدینو ) لپاره یې 60 ورځې مهلت وټاکلو چې باید د دوی له سیمو ووځي.




نو لوستونکو ! دا مستقیماً د امریکایانو پلان او دسیسه ده، امریکایان په قبایلو کې د جهاد نفرت او اسلحې سره ددغه قبایلي زلمو د تضاد فکر او روحیه عاموي ترڅو د پاکستاني ریاست په مقابل کې بیا کوم پلار خپل زوی ته اسلحه وانخلي او یا یې د استشهاد میدان ته ونه لیږي نو د قبایلو علاقي

لپاره سخت قوي او بنيادي پلان باندې کار روان دی ،مهري معلومي شوي دي .

خو دوی دې نه خوشالېږي، دا غلامان به يي ان شاءالله د بادارانو سره يو ځای الله عزوجل د مجاهدينو مردکو او موټر بمونو او استشهادي کمربندونو ته برابروي له دوی څخه وړاندې داسې ډېرو خلکو مجاهدينو ته داسې ګوتڅنډنې کړي ، نو دوی هم په دې کار سره بل څه ونه کړل مګر ځانونه يي زموږ د ټارګيټ د ليست سر ته راوخيژول او مرګ يي په بيه واخيست باذن الله .

اوس به نو امريکايانو ته په پښتونخوا کې د اوسيدو اجازه وي ، او په دومره لويه جرګه کې به يي تشه يادونه هم نه کيږي خو هغه مجاهدين چې د همدې امريکايانو سره جنګيږي، د همدې علاقې دي ، همدلته يي کور کلی دی ، او په هر معيار يي دا حق دی چې دلته واوسيږي ، خو دوی بايد د دغه خويه سرو په خوله له دې علاقو ووځي او امريکايان دې په کې پراته وي؟

دوی فکر کوي چې دا پښتو نخوا ټوله د دوی د پلار ده ، او د بل چا ورسره په کې حق نه شته ، که يي امريکايانو ته سپاري او که يي چينايانو ته سپاري ، که چاته د اوسيدو حق ورکوي او څوک ترې وباسي نو دا به د دوی حق وي ، خو داسې نه ده مجاهدين به يي سترګې ورخيرې کړي ان شاء الله .

خو دوی دې په خلاصو غوږونو واوري ! کوم زور و چې امريکا د مجاهدينو د نابودۍ لپاره ونه واهه، په هغه وړوکې تمکين ساحه د زرګونو کروزونو راتوغول، د بې ون او بې باون د ټنونو بمونو راورول، د ډرون په شمول د نور ډول، ډول جنګي طيارو شپه او ورځ ځار او بمبار، چاپې، عملياتونه او شب خونونه، د بمونو مور او نور هر ډول زور ... دا هر څه يي وکارول خو

د حسرت او پښیمانۍ سره ستنه شوه، امریکا د خجالت او ندامت په خولو لکه لمده پیشو په خپله مخه لاړه نو په همدې اساس يي ددوی بادارانو او همدې غوړه مالانو ته يي د رب العالمين دغه وعده وريادوو چې فرمآيي : قال تعالى : إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ . [سُورَةُ الحَجّ : 38]

ژباړه: بېشکه، الله له هغو کسانو څخه دفاع کوي چي ایمان يې راوړی دی، دا یقیني ده چي الله هیڅ یو خائن، د نعمت منکر نه خوښوي. و صلى اللهم و سلم على نبينا محمد و على آله و صحبه أجمعين و الحمد لله رب العالمين.

17 ربیع الثاني

منطقة کوکي خیل خیبرپښتونخوا